
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com




Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

# د خاطر دیوان

مصري خان خاطر اپریدے

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



# ترون



د خیبر درې
د شاعرانه غېږې
په
نوم

د خاطر رنګین غزل ته حېرانېږم
په دې خم خیبر کښې څۀ دې پې لۀ خاورو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



## فهرست

شمېر — مخ

( ا )

۱ : چې عاشق د معشوقې په لور کا تۀ کا ———— ۱۴
۲ : چې اشنا ئې ستمګر شي نو به څۀ کا ———— ۱۵
۳ : زړۀ مې کړی هر وخت د ددونه اشنا ———— ۱۶

( د )

۴ : کافي برقي دی دیدار د محمدؐ ———— ۱۷

( ل )

۵ : خیبر نن کۀ در ته ما وکړل تا را وکړل ———— ۱۸

( م )

۶ : د استا د حسن تماشې والخستم ———— ۱۹
۷ : دوایه شم تا نه قربان څۀ وکړم ———— ۲۰
۸ : باغ د مینې دې د خیال پکښې غنچې کړم ———— ۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


مخ
۹ : زه ځکه د مرم په شان دیدار ته اربه کېږم ______ ۲۲
۱۰ : شرمېږم چې نه یې پېژنم په ځوانۍ پسې نهېږم ______ ۲۳
۱۱ : ستا په الفت کښې به هېڅ بېزار نه شم ______ ۲۴
۱۲ : واخلمه تا او که دنیا واخلم ______ ۲۵
۱۳ : خوشحالي ستا شوه زه يې نه اخلم ______ ۲۶
۱۴ : تکه کلي چې په ازغو کښې وینم ______ ۲۷
۱۵ : په دې دنیا کښې هسې شپې تېروم ______ ۲۸
۱۶ : اشنا کله تا ته په کتو پوره شوم ______ ۲۹
۱۷ : قسمت دا سې دې ويده کړم چې بېدار نه شوم ______ ۳۰
۱۸ : نور به زه دې نه ځاتيرې چې خپه وايم ______ ۳۱
۱۹ : ته به کرغې هسې بنځلې نه به مرېم ______ ۳۲
۲۰ : بنکلي مخ ته دې د مرم په شان اربه يم ______ ۳۳
۲۱ : رنګ ته چې ګوره سره سکرو نه يم ______ ۳۴
۲۲ : سپرلیه ! زه دې په غنچو کښې نه يم ______ ۳۵
۲۳ : يا ره ! ستا مينې په اور سېځلې يم ______ ۳۶
۲۴ : ستا د منزل په منزلونو کښې يم ______ ۳۷

( و )

۲۵ : ژوندی کله ته ما پوه دی چې اله خادرو ______ ۳۸
۲۶ : ځوره به زه ته بې بدمه په سره سترګو ______ ۳۹
۲۷ : نن به خپه بې سې نما په توره سترګو ______ ۴۰

مخ
۲۸ : بیا دې سپین نه کړم په هغه سترګو ______ ۴۱
۲۹ : ما د وصال په شپه کښې تو له شپه سحر لیدلی ______ ۴۲
۳۰ : شوق چې ستا له وهد پېغو بعض سره لاړ لی ______ ۴۳
۳۱ : باد شوم مه د عشق ډګر نګو نو په سر ونن ______ ۴۴
۳۲ : غر یه سره پټ درایه په نهه ذره ذره یی ______ ۴۵
۳۲ب : ځکه چې تن په سوز نه یدو تېر کړه و ______ ۴۶
۳۲ج : مینه شوله وهه چې انکار دې وکړو ______ ۴۷

(ه)

۳۳ : خبر نه وم دې ثواب او دې عذاب ته ______ ۴۸
۳۴ : زه يمه هجران د دنيا سترګو ته ______ ۴۹
۳۵ : ته چې رقیب ته اشارې کړې داد مل بخښنه ده ______ ۵۰
۳۶ : خوا ده ته راغله شر دخوږ هسې نامه پاتې ده ______ ۵۱
۳۷ : بېګا ستا په انتظار چې هسې سترې تو له شپه کړه ______ ۵۲
۳۸ : لرې دنقاب لرې کړه دل زده کړه ______ ۵۳
۳۹ : ما په شرګین تا په خوږ تېره کړه ______ ۵۴
۴۰ : رقیبه په خپل راغلي اشنا خېرې کړه ______ ۵۵
۴۱ : یاد شرابو نه نشې وباسه ______ ۵۶
۴۲ : د سحر باده دا ارمان یې رسه ______ ۵۷
۴۳ : تکه کلې د سپېدو وکه شه ______ ۵۸
۴۴ : ستاله سپینه مخه ځار زما زړګی شه ______ ۵۹
۴۵ : د هجران په شپه دې په لاس کښې راغله ______ ۶۰
۴۶ : ترخې ته چې زه کینې کله کله ______ ۶۱

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com




| | | |
|---|---|---|
| | | مخ |
| ۴۷ | ستا د ښکلي مخ شمعه چې مې وه شرله | ٦٢ |
| ۴۸ | بیا به سره کړو دواړو ځوانۍ ده دریمه دروېمه | ٦٣ |
| ۴۹ | شکر دے چې زه هم د ښېرې شومه | ٦۴ |
| ۵۰ | کله چې په فکر کښې د ستا یمه | ٦۵ |
| ۵۱ | د لا دې خاوره شم د ښیر ځنې د تلې یمه | ٦٦ |
| ۵۲ | تو به شنګه تېرېږي کا په هوښیار باندې وختړنه | ٦٧ |
| ۵۳ | ما په مثال لکه پتنګ تکنه | ٦٨ |
| ۵۴ | د ستا د خلې چې فیصله ما نه شي | ٦٩ |
| ۵۵ | نور نصر به خیر ونکښي د افسون مه زکړه | ٧٠ |
| ۵٦ | ته خو ایه زه به غمځه کړم، زنګیه لیرېبه ! | ٧١ |


ډ


| | | |
|---|---|---|
| ۵۷ | ځیګر چې شي کباب په لیراره د لګیده ده | ٧٢ |
| ۵۸ | لرے درباب د ښتې نه شي په واړه زړه | ٧٣ |


ی


| | | |
|---|---|---|
| ۵۹ | د اسې بله شیه به په نصیب سره راشي | ٧۴ |
| ٦٠ | عکس د ستا زما د ستړګو له ځمبار وځي | ٧۵ |





| | | |
|---|---|---|
| ٦١ | د ستا سترګې چې کړې د زړه نه وځي | ٧٦ |
| ٦٢ | زنګیه ! تا دې چې دردونه غمځه دي | ٧٧ |
| ٦٣ | چې پښېمان نه شې په یا کښې غمځه دي | ٧٨ |
| ٦۴ | کله د ستا د خنده به درشېږي دي | ٧٩ |
| ٦۵ | د ستا په غم کښې خوشحالي پټې دي | ٨٠ |
| ٦٦ | زما چې دا مدام وغند دلبر ته سترګې دي | ٨١ |
| ٦٧ | ته خو ما نه هسې بله دنیا ښکاري | ٨٢ |
| ٦٨ | زړه چې کله هر څه را نه هر څه غواړي | ٨٣ |
| ٦٩ | زما زړه او د ستا سترګې سره پوهېږي | ٨۴ |
| ٧٠ | ما نکې خو به هم زړه د هېر کا خو دردونه دیکا تېرېږي | ٨۵ |
| ٧١ | غمځه چې پرې ګړمازه ما دیار سره چرېږي | ٨٦ |
| ٧٢ | د دغت د ګدازار دش چې دا غړیه نه چرېږي | ٨٧ |
| ٧٣ | نور به ایله شڅه دلبر نه پاڅې کېږي | ٨٨ |
| ٧۴ | سترګې دې کړه برنده چې وختړنه راز خطا شي | ٩٠ |
| ٧۵ | په ارمان د نادانۍ شي چې هوښیار شي | ٩١ |
| ٧٦ | دغې دنیا نه چې ځکان ورک شي | ٩٢ |
| ٧٧ | چې چې دوبندے دلبر په پیمان شي | ٩٣ |
| ٧٨ | ستا چې خو دې زلفې کړ نیږه را تار شي | ٩۴ |
| ٧٩ | دیا ندې به چې را وچې چې کانګه به شي | ٩۵ |


Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



مخ


۸۰ : خزان لا یې شي بهار را شي کلان خوشحال شي ———— ۹۶

۸۱ : راشه په کوڅو کښې د جرګو خبرې نۀ شي ———— ۹۷

۸۲ : دا ستا په سترګو کښې به څۀ پاتې شي ———— ۹۸


## ے


۸۳ : زړۀ په دا ننۀ دے چې ناوړے مخ دے ———— ۹۹

۸۴ : شوک چې ستا د ګراف مینې طلبګار دے ———— ۱۰۰

۸۵ : خون خوږ د مینې په ترخو کښې انتظار دے ———— ۱۰۱

۸۶ : خدایه څو مره بې وفا زما دلبر دے ———— ۱۰۲

۸۷ : ما دې ځان راته اشنا د ستا په ښېر مے ———— ۱۰۳

۸۸ : شاشه چې حسن دې اشنا د سرو لمبو نه ډک دے ———— ۱۰۴

۸۹ : تک تور سرے دا ستا سرے ورېل دے ———— ۱۰۵

۹۰ : څو مره ورېږي په نېږي باندې چې غم دے ———— ۱۰۶

۹۱ : ستا په انتظار کښې ما ته کال څۀ دے ———— ۱۰۷

۹۲ : چې نږدې ستا په تور دے په بل تورې پېرند نۀ دے ———— ۱۰۸

۹۳ : چې لږ نظر مې د بصر پاتې دے ———— ۱۰۹

۹۴ : سترګې دې چلې وخندا نده کړے ———— ۱۱۰


## ې


۹۵ : د ځان سپېکا رو لو کښې مسکې دې ما لیدې ———— ۱۱۱

۹۶ : اشنا چې ن لیدۀ تېرې وعدې را یادېدې ———— ۱۱۲

۹۷ : زما د امیدو ونې شپې وخنېدې ———— ۱۱۳

۹۸ : چې ښکلې دې وخندېدې شرشو ې ———— ۱۱۴




مخ


۹۹ : پوره شوېه په دې چې په کنځل کښې ښکه ښکارې ———— ۱۱۵

۱۰۰ : اے ګله ستا چې وکې لۀ خندله سترګې لاړې ———— ۱۱۶

۱۰۱ : کۀ دې دا زلفې په لاس راغلې اشنا بیا به څۀ کړې ———— ۱۱۷

۱۰۲ : دېره خوشحالي به نۀ ده بیا را ته هېرېږي ———— ۱۱۸

۱۰۳ : ګله مجنون غوندې ګرځم په بیابان دړېږي ———— ۱۱۹

۱۰۴ : راشه اے ماو تابان په توره شپه کښې ———— ۱۲۰

۱۰۵ : چې د سترګو دې ښکارېږي زما سترګې ———— ۱۲۱

۱۰۶ : خود د هسې پرې کوچې شرې زما سترګې ———— ۱۲۲

۱۰۷ : د ستا چې نۀ وینم دا تورې سترګې ———— ۱۲۳

۱۰۸ : څۀ وشو چې سترګې مې په تابانه څوښې شولې ———— ۱۲۴

۱۰۹ : چې اشنا نې کړې ایسار یم ولې ———— ۱۲۵

۱۱۰ : اوښکې نۀ کېږي څر راماتې شرې ———— ۱۲۶

۱۱۱ : تۀ به په زړۀ کښې ما ته څۀ را کړې ———— ۱۲۷

۱۱۲ : نۀ ما ستا ښکلې یې په سله نۀ یې ———— ۱۲۸

۱۱۳ : هر څو کۀ چې د زړۀ قرار ما له راکړې ———— ۱۲۹

۱۱۴ : داسې را ته ګورې ته نۀ چې را ته ګورې ———— ۱۳۰


## سندرې

لۀ ۱۳۲ نه تر ۱۶۵ پورې

---

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې عاشق د معشوقې په لور کاتهٔ کا
خو د لېمهٔ شي کم طاقته په ښواتهٔ کا

چې پلو لهٔ مخه لرې کړي رڼا شي
لکه سترګه د سبا چې راخاتهٔ کا

لږ یې عکس د زړهٔ واخله کهٔ دې شک وي
چې دا تور باڼهٔ دې څرنګه ویشتهٔ کا

په مئین زړهٔ ځنکدن شي چې یار راشي
په هیبت زړهٔ په کوکل کښې الوتهٔ کا

د خاطر په زړګي داغ د بېلتون ګوره
چې د یار په لور کاږهٔ واږهٔ کاتهٔ کا

چې اشنا یې ستمګر شي نو به څهٔ کا
چې زخمي شوک په ځیګر شي نو به څهٔ کا

چې ټول عمر یې تېر کېږي په پالنګ وي
څهٔ چې زمکه یې بستر شي نو به څهٔ کا

چې په عمر کښې یې غم لیدلے نهٔ وي
چې د غم سره یې سر شي نو به څهٔ کا

انتظار چې د وصال په کومه شپه کړي
د بېلتون چې پرې سحر شي نو به څهٔ کا

کهٔ دیدن د یار مرندے په ډېرهٔ شي
چې غماز د چا رهبر شي نو به څهٔ کا

زهٔ خاطر خو همېشه دغسې وایم
چې اشنا یې مرور شي نو به څهٔ کا

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



کاڼي بوټي دي دیار د محمدؐ
ما منلي په دیدار د محمدؐ

ګل نګونه به یې لا رې شي په مخکښې
که چا ونیوله لار د محمدؐ

د دُنیا واړه ګلونه به یې هېر شي
که چا ولیده ګلزار د محمدؐ

چې د دې دُنیا ژړا او خندا نه وے
نه وے شمع په مزار د محمدؐ

د یادونو یې وصال ګڼه خاطره
چې قرار وي یې قرار د محمدؐ

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



○

زړه مې ګوري هر وخت دردونه آشنا
لېږ خو مې وا وره فریادونه آشنا

ترڅو به ژاړم ستا په مینه کښې زه
ګوره د اوښکو مې سیندونه آشنا

اوس دې له غمه خلاصېدے نشم
ما وې په عشق کښې وي خوندونه آشنا

نن په جبین کښې دې خالونه ځردي
دي په چشمانو مې ګردونه آشنا

که ستا په خیال کښې دے اجل ته قریب
د خاطر شته دي ارمانونه آشنا

○

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خبر نه کړه در ته ما وکړل تا را وکتل
خو ګوره دم به دې بیا که دې سبا راوکتل

هم د غمسې ګلونه وو چې مینه جوړه شوه
خو وشو پسرلے دے که آشنا راوکتل

دنیا را ته ګوري د کتو نه وو تم
چې تا نه مې کتلی دی هرچا راوکتل

په مخه باندې را غلې مخ دې خله پټوه
کړه غم دې را ته جوړ چې دې په شا راوکتل

دستی مې وخندل هم دا مې وه ارمان
تا چې اے رقیبه په خندا راوکتل

یو دم مې زړه نه سے شو لوهمز ولو خاندګمه
خاطر چې غریو نیولی په ژړا راوکتل

[illegible]



د ستا د حسن تماشې واخستم
تکه لوګے په سر لمبې واخستم

لاس خو یې را نه کړه چې مخ پټوي
ګوري یاران یې د غم شپې واخستم
دا در ته سوال کړم چې سوال نشم کړلے
وایې خله ته چې ستا اسرې واخستم
سبا یې بیا په زولنو کښې ګوره
نن یې چې فکر د کوڅې واخستم
سم دې د مخ په سبا پوه نه شوم
که دې د زلفو توري شپې واخستم
ګوره د ژوندون را ته یو پوره بنکاره شو
چې تصور د هغه دیړې واخستم
بس یادوم دې نور یې مه تنګوه
چې را ته مې صبر نشي غمې واخستم

خاطره ته او دا دنیا دې پوه شه
نه بس د عشق یوې قصې واخستم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



وو‌ایه شم تا نه قربان څه وکړم
نور د دې د پاسه په ځان څه وکړم

ته خو به کمځې د زلفو جوړې کړې
زه په دې شلېدلي ګرېوان څه وکړم
ته خو چا ته نه ورځې، خو زه راغلم
څو یم ستا په در کښې مېلمان، څه وکړم
زه به نور څه نه کړم بس دے سوال کوم
نور خو زما نشته دے توان، څه وکړم
ستا په طمع ځان له پاتې شوے یم
ټول خو را نه لاړل یاران، څه وکړم
پوه دې چې په ځان کړم اوس چې نه پوهېږې
بیا به داسې نه کړم سلطان، څه وکړم
چا به د غم ډک ژوندون اخستے وه
بس خو چې پیدا شوم انسان، څه وکړم

اوس خو زه خاطر په څه پوهېږم نه
تا چې کړمه داسې حیران، څه وکړم

باغ د مینې دې د خیال په کښې غنچې کړم
ستا د مخ په تصور کښې تماشې کړم

بل به نه وی یاره ستا غوندې کښې حُسن
شعله اور د خپله لاسه در پسې کړم

ستا د مخ کتاب د زړه په سترګو ګورم
په ځان تېرې شې او بدې راخورې کړم

نه خاطر خو یاره ستا د مخ کتاب ته
بې له تا نه په خیبر کښې ورځې شپې کړم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زۀ لکه د موم پۀ شان دیدار ته اوبۀ کېږم
پرېږده چې او بۀ شم ستا رخسار ته اوبۀ کېږم

چرته شی خوبونه شپې پرې ستورې محفل جوړ کړي
همدا ې مشغولا شی ستا سپېګار ته اوبۀ کېږم

زۀ پرې بنۀ پوهېږم ستا لیدل زما اجل دے
بیا ې هم وار نۀ شی ستا یو وار ته اوبۀ کېږم

اوس خاطره ولې خداې پۀ نېوۀ کړم دومره سخته
بیا چې پس لۀ مرګه ستا مزار ته اوبۀ کېږم



ستا پۀ اُلفت کښې به هوښیار نۀ شم
څو چې د عقل نه وزګار نۀ شم

سود ې د عشق پۀ لېونتوب نۀ شی
څو چې رسوا دې پۀ بار بار نۀ شم

یار ې وفا دې ما ته هله وائی
چې ترې لۀ سر او ماله ځار نۀ شم

څو چې پۀ تورو خاورو سوې نۀ شم
سوې به دې هرمره پۀ دیدار نۀ شم

کۀ د منصور غوندې پۀ دار شم اشنا
دا ستا لۀ عشق به توبه ګار نۀ شم

خاطره ! داسې ګذار عشق راکړلو[1]
چې بل ګذار ته به بېدار نۀ شم

[1] [illegible]

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



واخلمه تا اوکهٔ دنیا واخلم
پهٔ خندا خرنګه ژړا واخلم

لېږې دې پورته کړه د مخ نه زلفې
لېږه سودا چې پهٔ دنیا واخلم

تهٔ چې پهٔ سترګو کښې مسکې شوې ګلې
نهٔ دې د دې مینې بلا واخلم

تا ته چې ګورم پهٔ دوډ زړونو کښې شم
یو قدم مخکښې بل پهٔ شا واخلم

مرګ او بېلتون راته جوړه راغلي
خاطره دا واخلم کهٔ دا واخلم



غوسه چې نهٔ پېږم په ځوانۍ پسې نهٔ ژړېږم
خدای ته ده نهٔ پوهېږم چې ساده شوم که پوهېږم

نهٔ اوله تا تګ داسې کله چرته شوی
دومره خو پوهېږم چې قدم اخلم ودرېږم
تهٔ او ستا بنایست چې په ما څنګه څنګه کړې شي
مهٔ کوه ایله نن د هر څهٔ سره جوړېږم
نهٔ یمه خوشحاله ستا په غم کښې خندنه مهٔ شي
خدای دې پخلا مهٔ کړه چې لهٔ تا مروړېږم
شان یې د کړو نهٔ وی خو چې زړهٔ یې شي راپورته
تا ته چې نهٔ سوال کړم د خپل ځان ځنې شرمېږم
غوښته یې هم دا چې راته وواېې چې د دومره
خدای خبر چې بیا دې پهٔ پلو در ښکاره کېږم
تهٔ که په یو ځله لهٔ ما خلاصېږې نورې واخله
تهٔ به راته نهٔ شې کتے څهٔ له خندنه کېږم

څنګه ما خاطر در ته دا وړې چې یې هېر کړه
پېژندم چې یې وا ره په هر ځای کښې در یادېږم

---

میاشتنی «قند» مردان ـ خصوصي ګڼه ۱۰ رکالئین نمبر (ص ۹۵)

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


لکه ګلې چې په اغزو کښې وينم
داسې يې زړهٔ ستا په بڼو کښې وينم

رخسار دې وينم تورو زلفو کښې ستا
لکه رڼا چې په تيارو کښې وينم

ګلفامه څو کهٔ لرې اوسې له ما
زهٔ دې د نم په پلوشو کښې وينم

دوستا ليدل تېر شوي خوب وهٔ آشنا
بيا به دا خوب په کومو شپو کښې وينم

اے د صبا ستړې باخبره په ورو
تلهٔ د آشنا دې په خترو کښې وينم

زما خاطر خاطر دې اوږدو کښې ويسو
اوس يې لوګے په اسوېلو کښې وينم



خوشحالی ستا شوه زهٔ يې نهٔ اَخلمَ
دستا غمونه واړه زهٔ اخلمَ

تا يې چې زړهٔ وړهٔ ګواه هم نهٔ لرم
اوس به لهٔ تا نه څنګه زړهٔ اخلمَ

اول سپرغی وم ستا دمينې د اور
اوس په ځان پړه شوم چې لمبه اخلمَ

په وړاندې ئې ځم په وروستو کوم آشنا
زهٔ قدمونه چې واړهٔ اخلمَ

هر سړے کړ دوئ نه په خاطر دی دغم
په اسوېلو کښې چې سيالهٔ اخلمَ

---

دمنزل په ځاې کښې د النقاط ختمونه د دے چې صحيح نهٔ دے.

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



پهٔ دې دُنیا کښې مسې شپې تېروم
لکه مېلمه یو دوه غرېې تېروم

پهٔ ما زهیر مهٔ شې خوږ مخ ښکاره کړه
پهٔ زړهٔ د ستا د مخ لمبې تېروم

خوشحال تهٔ کوه چې غم نهٔ لرې
زهٔ لېونے یم چې تنګسې تېروم

دا زهٔ خاطر ستا د خاطر د پاره
پهٔ خپل خاطر د غم چپې تېروم



اشنا کهٔ تا ته پهٔ کتو پوه شوم
نو بس پهٔ ټولو تماشو پوه شوم

بس خو معلومه شوه چې نهٔ راددوې
ستا د دروغو پهٔ وعدو پوه شوم

یا د ساقی د مېی خوند نشته دے
یا زهٔ ایله اوس پهٔ نشو پوه شوم

سوے به هم د خاطر زړهٔ وی داسې
زهٔ دې د مخ پهٔ سرو لمبو پوه شوم

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



قسمته راشي دې ودۀ كړم چې بيدار نۀ شوم
بغير لۀ تا ستا دغمونو نه وزګار نۀ شوم

پۀ دې دنيا كښې به غم ستا لۀ ژوندۀ څۀ ونډ وي
لمبېږم غوند څوېږم خو يو ځل پۀ كښې خمار نۀ شوم

ستا پۀ الفت كښې هغه خوب چې ما ليدلے اشنا
د رقيبانو د جړګو ځنې وېزار نۀ شوم

تۀ چې راكوې زۀ به هغه وخت پۀ طمع ومه
يو ځل هم مړ د ستا د خولې پۀ بنۀ ګفتار نۀ شوم

هغه وعده چې تا پۀ سترګو كښې وه مانۀ كړې
دا زۀ خاطر دې د وعدې پۀ انتظار نۀ شوم

نور پۀ زړۀ مې نۀ ځائېږي چې څۀ وايم
دا نو بيا مسودېږي چې څۀ وايم

كۀ څۀ نۀ وايمه هم راپورې كګي
پۀ دې هم راته قهرېږې چې څۀ وايم

د هرچا پۀ لورې خمه داسې وخت دے
بيا مې وخت كله تېرېږي چې څۀ وايم

كۀ خبره نۀ وي ما نه خبر دے خبر دے
بيا خپل حسن نه خبرېږې چې څۀ وايم

وړېره بنه پۀ تا پوهېږمه خاطره
خو بس سترګې مې شرمېږي چې څۀ وايم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تهٔ به کرغې مسې ښکلے زهٔ به مړ یم
چې ې اوس ونے لړ لیدلے زهٔ به مړیم
جنازه ې چې له کوره کړد تــه درومی
تهٔ به نهٔ وې راو تلے زهٔ به مړ یم
خدای د پاره پهٔ مزار ې چې را درومې
لږ شه ماته پښه نیولے زهٔ به مړیم
زهٔ به مړ شمه قرار ې مرگے ورک شه
سره خاندی به توِل کلے زهٔ به مړیم
وچې ترغې به پهٔ ما وی با ذرغوني
وی مزار به مې مُښلے زهٔ به مړ یم
اے اشناچې دې وطن له تهٔ را درومې
خرخښې خو دې لیدلے زهٔ به مړیم
خرې خاورې به پهٔ ما باندې انباروی
هرسړے به درومی غلے زهٔ به مړیم

د کاکل پهٔ خته بند د مغ کتاب کړه
ما خاطر پهٔ خدای سپارلے زهٔ به مړیم



ښکلی مغ ته دې د موم پهٔ شان اوبهٔ یم
لکه کافے مسې کلک ورته پهٔ زړهٔ یم

چې پهٔ کومه لاره لاړشی زهٔ یې مل یم
لکه کرد یې مسې خورد پهٔ هر یو پلهٔ یم

زهٔ پهٔ کومو سترگو ځان ته بیمار وایم
چې د سترگو اخستے شمه نو ښهٔ یم

ستا لیدل لکه د خوب لیدل دی یاره
پهٔ دې خوب پسې لا مغشې وُدهٔ یم

لږ د ځان سره پهٔ زړهٔ کښې فکر وکړه
زهٔ خاطر دې چرې یوځلې پهٔ زړهٔ یم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



کوره چې رنګ مې سوے سکوډ نهٔ يم
طاقت مې نشته ستا د نوو نهٔ يم

راځه د سترګو نه مې مهٔ ورېږه
سرې په ژړا دی څهٔ مېخور نهٔ يم

دې اسوېلو ته مې تهٔ نهٔ ګورې څهٔ
سوے په اور يم سوے لوړ نهٔ يم

ستم کړه تهٔ منع کړے يې چا
زهٔ لا خاطر مړے دګور نهٔ يم



سپړليه زهٔ دې په غُنچو کښې نهٔ يم
عادت په داسې تماشو کښې نهٔ يم

کهٔ راکوې نو سم شراب راکړه
زهٔ دې ساقي هسې اوبو کښې نهٔ يم

اے خدايه بس ما خپله ورځ وليده
د داسې ژوند په تېرېدو کښې نهٔ يم

د ستا بانهٔ د ستا رخسار په خاطر
بې د ګلونو په ازغو کښې نهٔ يم [۱]

تهٔ ما خاطر ته هسې ست خو وګرځه
چې خفه نهٔ شې په درتلو کښې نهٔ يم

[۱] منظر لمنظور ديوان کښې دا بيت د غزل دويم بيت دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا د منزل په مزلونوکښې یم
د دیدو په امیدونوکښې یم

نه مې دنیا نه مې عقبا ګټېږی
دغې سودا او دا فکرونوکښې یم

د ستا رخسار به مې هېر نشی اشنا
که د بهار په سرو ګلونوکښې یم

زما په زړه کښې خوهم ته یې اشنا
دا نه خاطر که د چا زړونوکښې یم

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



یاره ستا مینې په اور سوځېدلے یم
روغ به نشمه په زړه داغلے یم

خودم قسم چې ترهغې پورې ژوندے یم
وړې دې نه په تش دیدن ساتلے یم

همېشه سرپه زنګون په غم کښې ناست یم
یاره تاکله خوشحال لیدلے یم

خوار خاطر ولې چې داکومه ګناه ده
چې لهٔ در دې بېنوا شړلے یم

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ژوندی کله نهٔ ماپهٔ دی بې لهٔ خاورو[1]
نهٔ ماپهٔ دی نهٔ ساپهٔ دی بې لهٔ خاورو

چا چې خاورې ځان کړلے پهٔ ژوندون دے
هغه چرته کښې ؤدهٔ دی بې لهٔ خاورو

د انسان سره چې غم مل شي نو کلک شي
دېوال کړے چا اوبهٔ دی بې لهٔ خاورو[2]

د خاطر رنګين غزل ته حيرانېږم
پهٔ دې خر خېږ کښې څهٔ دی بې لهٔ خاورو

○

[1] مثنز لمنه او دیوان کښې د (لهٔ) پهٔ ځای صرف (ته) (د) لیکلے شوې چې صحیح نهٔ دے
[2] مثنز لمنه او دیوان کښې غلطه مصرعه داسې لیکلې شوې ده:
دېوال کړے چې اوس دے چا لهٔ خاورو.



○

خرد به نهٔ ژېړ مه پهٔ سره سترګو
ته روتمه ستا پهٔ لېونو سترګو

مهٔ توروه تورې بلا سترګې دې
پام چې دړ ته نهٔ شي د سپېرو سترګو

عمر لږې کار وګ د ژړا سره
وهٔ چې کورې چا ته پهٔ معمور سترګو

بس کړه د خاطر سره پخلا شه ته
خلق وهر عزت کړي د نېرو سترګو

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نور به څهٔ یوسې زما په تورو سترګو
زړهٔ دې وړے لا پخوا په تورو سترګو

کهٔ پروا کړمه څو زهٔ به دې پروا کړم
نور دې څهٔ کوې پروا د تورو سترګو

ډېرې سترګې مې د سترګو په هر لور شی
کړم دې داسې وارخطا په تورو سترګو

کړې مې سترګې ستا د سترګو قدر دومره
ور به یې نهٔ کړم د دنیا په تورو سترګو

نهٔ خاطر دې د کجلو سلائي وے
ښکلولے دې اشنا په تورو سترګو



بیا دې سهې نهٔ کړم په هغو سترګو
یو ځلې هم هغسې په مړو سترګو

نهٔ مې شته په نورو سترګو شک د زړهٔ
بس خو زړهٔ مې غل دے ستا د غلو سترګو
زهٔ یې کړم آشنا لهٔ شوکیرو سره
یو مې پل خوبونه ستا ویدو سترګو
نهٔ یم چې د زړهٔ په سترګو تا وینم
چارنا لیدلې په ړندو سترګو
خپل مې وارهٔ بدرائي په سترګو کښې
ستا د پاره خپل شوم د ړندو سترګو
ستا دې اوږدو وروځو ته حیران یمه
څومره ښکلې ښکارې په دې دو سترګو
خیر دے دا زما سترګې خو بدې شرې
تهٔ خو راته ګوره په دې ښو سترګو

څومره ترټنه وږې دی حیران یمه
سترګې د خاطر ستا لهٔ مړو سترګو

ډېره یو پاکستان پېښور (مسودات)

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ما د وصال په شپه کښې تورله شپه سحر ليدلو
حال مې د ځان لکه مجنون هسې اوتر ليدلو

دريغه چې شپه وه د وصال خو ترقصته پورې
نه په ديدن نه مړېدم چې مې دلبر ليدلو
بيا د سحر غمونو هله لمبې کړمه زه
سر ماښام مې نمر اوچت د غرۀ په سر ليدلو[1]
نه يې لا هيڅ په سرو لبانو باندې نه يمه پوه
لا په اسمان مې چې د لمر په ځاى قمر ليدلو
په تصور کښې مې د ځان سره کول فکرونه
په هغه شپه چې به غماز جوړې محشر ليدلو
چې مې را ياد کړل هغه تېر د جدائى وختونه
له غمه ډک مې ترهغې پورې اختر ليدلو

خاطره بس کړه د وصال طمع پېدا شوه د يار
وائي رېبار چې مې جانان دې سر عدر ليدلو

---

[1] مستر ... د ديوان کښې چې ... دا مصرع داسې ده:
د ماښام سره ... نمر مې اوچت ... په سر ليدلو

شوق مې ستا د ډېرو پېغورونو سره لاړلو
زور مې شو او به د ستمونو سره لاړلو

خوښ مې اننګې شول د ښو ازغي مې مېر شول
زړه را نه بلبل شو د ګلونو سره لاړلو
ډېرې مې کړې ټينګې خو اخر مې اوښکې لاړلې
تاو د محبت د ارمانونو سره لاړلو
سترګې مې نيولې ستا د مينې په کاروان کښې
لاړلو نظر مې د ګردونو سره لاړلو
زه تر ننه لوګي شم چې به څۀ سوې ترې راشي
زړه را نه د يار د ديدنونو سره لاړلو
چرته واسې يار شته لکه زه په انتظار يم
ستورې د سبا هم د فکرونو سره لاړلو
چرته به زما لېونې زړه پرې مشغولېږي
ستا د تورو زلفو زنځيرونو سره لاړلو

خو به دې مهار د عشق نيولې وي خاطره
ژوند د رڼې هسې د وختونو سره لاړلو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



باد شو مه د عشق د ګړ نګونو په سرونو
په بوتم دلبري و طنزونو په سرونو

در بغه چې د ستا د اشکو خوله هم نه وي
پرېږي نه چې ګودم د ګلونو په سرونو
ستړګې به زما شي اخر غرقې په ژړا کښې
ګرځي چې کشتۍ د ګردابونو په سرونو
مات په ما نظر کړه چې سپهر ستړګی حق حیران شي
دود چې کړه د لوبو محلونو په سرونو
هسې هم ایرې یمه د باد سره الوځم
سکور مې شعله نیسي د زخمونو په سرونو
ځان به خاورې نه کړم غم د یاره کاځوږېږي
خاورې دې پرېږي وي د تیغونو په سرونو

بنګلي به سر تیت کړي یاره ستا په تصور کښې
ډېر خاطره ستا د غزلونو په سرونو



څو به سره پټ دواړه په زړه ذره ذره یُو
کله دا دي خوښه نه ده چې صرچا ته دې ښکاره یُو

یو دغه ښېلتون دے چې عزت مو په کښې ډېر دے
څو به په کښې وایو چې مدام دي در سره یُو

ته زما په سرى شمعې نه ستا په انتظار کښې
هر کله چې وى نو مړه به دواړه په یو شپه یُو

نه به کلې واورم کله دنیا په بله واوړی
ګرځي دي نو د خلق مونږ په خپله تماشه یُو

یوغ به مې سوګند شي په کښې و ودځو د یار
اوس به دواړه څه رقیبه تو دې په اوښه یُو

راشه مروره چې مې شک له خاطر وځي
وایو به رښتیا چې دا په څه سره خفه یُو

---

۱ـ دیوان او منزل لرند کښې سوړی چمن لګېږي ، ایتلې شوې ، دې معرکه کې وزند او بې معنی کړی
۲ـ دا شعر منزل لرند کښې نشته .

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

څکه مې ښن په سوزېدو تېر کړه
چې مې پړدن په مسېدو تېر کړه
زما خو ستا منزل مقصد دے اشنا
زړهٔ مې له ټولو مرحلو تېر کړه
دلسوزی مه کړه تپوس همدمه
ژوکی مې عمر په لمبو تېر کړه
زما دا تېر ژوندون زما خو نهٔ وهٔ
ټول مې د ستا په تلو راتلو تېر کړه
پار بیا د چالهٔ تورو زلفو نه ګرم
یو ځلي مرګ را باندې دو تېر کړه
لکه د شمعې بېګا ستا په طمع
ټول انتظار مې په سګو تېر کړه
زهٔ چې سپېلی ته ورخېږم نهٔ یمه
ما د دیدن په رنګینو تېر کړه
ژوندون د عشق لمبې ژوندې غنهٔ دی
سر مې له واړو ګړنګو تېر کړه
اشنا د ستا د ښکلی مخ په خاطر
ما خپل خاطر په سرو لمبو تېر کړه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

○

بنه شوله وېره چې انکار دې وکړه
زما د واړهٔ عمر کار دې وکړه

خلق چې ښه ولے ګوری ورته
تا چې مخ پټ کړلو ګذار دې وکړه

د زړهٔ زخمونه مې بیا هله شماره
کهٔ د دې خپلې خندا شمار دې وکړه

زهٔ لا خفهٔ نهٔ وایم چې داغ مې په زړهٔ
تهٔ لا خفه یې چې دیدار دې وکړه

خاطره زهٔ له تا نه چا وېرې یم
وار به دې راشی کهٔ لږ وار دې وکړه

○

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خبر نهٔ وم دې ثواب او دې عذاب ته
خو تصوير وم ستا پهٔ دوو ځوکښې محراب ته

ما وې تل به خوشحالي وي ستا پهٔ عشق کښې
اوس مې نهٔ پرېږدي غمونه اشنا خراب ته

ستا د سرو شونډو آرمان خوځوله راشي
کله کله چې نظر وکړم ګلاب ته

يو ذره يې لرې نهٔ کړل د مخ نه
فکر يوړم د اشنا د مخ نقاب ته

تور يادونه مې پهٔ ياد کښې رانه هېر شول
يو دوه نهٔ راځي چې کښېنمه حساب ته

طالب زړهٔ به زما هم داسې تنګ تور وي
چې خاطر وکړم نظر سرې کباب ته



زهٔ يمه حيران د دنيا سترګو ته
ګوره کتلے نهٔ شي د چا سترګو ته
ستا د ښکلو سترګو بلا واخلمه
مخ دې کړمه سترګو بلا سترګو ته
راشه اهو چشمه ليونے شومه
سترګې مې صحرا دي د ستا سترګو ته
ستا چې خندنو سترګو ته ګورمه
راځي شي لهٔ واره ژړا سترګو ته
داخو دې پهٔ خپله اشنا کړې دي
خله مې نهٔ ورل کړې اشنا سترګو ته
ستا خندا برېښنا وه د فلک غورځندې
بيا را نغلله هغه رڼا سترګو ته
تا جوړې ارادې د راتلو کړې دي
ښکارې مې رنګينه فضا سترګو ته

نن خو مې خاطره ستا خاطر وکړو
بيا به نهٔ راکوي سبا سترګو ته

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

تهٔ چې رقیب ته اشارې کړې دا دمل نښه ده
تهٔ چې دا غلې غلې ګورې دا د غل نښه ده

کله یقین کړمه په دا چې مرور یې لهٔ ما
ما ته معلومه ستا په سترګو کښې د چل نښه ده

تهٔ چې تپوس رانه مُدام کوې چې څهٔ لټوې؟
زهٔ چې دا لاس په سینه ږدم دا یې اول نښه ده

خاطرهٔ تا چې بېګا خوب کښې د هجران لیدلے
یقین یې دا دے اخرې ستا د اجل نښه ده

○



○

خوابونهٔ تراخه شو د خوږو هسې نامه پاتې ده
د بدو شپې دی او د ښو هسې نامه پاتې ده

تهٔ رانه هېر یې خدایه هر څهٔ په دولت کړمه
د دعاګانو د ښېرو هسې نامه پاتې ده

په سترګو ژړو او په زړو کښې سره خاندو اشنا
مهٔ کړه ګیلې د ژړېدو هسې نامه پاتې ده

په دېره مینه کښې چې زهٔ او تهٔ پرې نهٔ پوهېږو
د عشق ورځو او د شپو هسې نامه پاتې ده

چې په پلو کښې به یې په زړونو پاندې اورلګو
د ستا د عشق اننګو هسې نامه پاتې ده

صبا به واؤ چې د خداې په خاطر ناشه لږه
په ما خاطر کښې د ژوندو هسې نامه پاتې ده

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



بېګا ستا پهٔ انتظار ي هسې ستړې تېره شپهٔ کړهٔ
خندل را پورې ستروه چې سپوږمۍ را ته ګيله کړهٔ

ورته سر پهٔ زنګانهٔ وم د وصال تکې ته غلې
ما به کله بنه کړه چې بېلتون را ته قصه کړه

شو پهٔ منډه نظر ستا هسې چې هر ستوری به جلب کړهٔ
چې د ستا پهٔ لور به تللو هغه ستوري به مزه کړهٔ

ور سره به يې تهٔ وچوی کهٔ شپه وچوی د خاطر نه
پهٔ ټبرا ټبرا فُدهٔ شي خو وعده يې ستا پوره کړه

ۓ صحيح مصرع دا سې پهٔ کار ده : خندېدل دا پورې ستوري کا چې سپوږمۍ به راته ګيله کړ



لبې د نقاب لرې کېدل زده کړه
زما پهٔ لورې سم کتل زده کړه

پهٔ جار خندا به رقيبان پوهه شي
پټ پهٔ لېمو کښې مسېدل زده کړه

اے زړهٔ چې سم دا وارې ونهٔ چوې
ټکه تنها که تړکېدل زده کړه

تهٔ ما خاطر ته نصيحت مهٔ کوه
ناصحه مانه پوهېدل زده کړه

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ما په شوګیر تا په خوبو تېره کړه
شپه مې سپوږمۍ ته په ګیلو تېره کړه

بېګا رانغلې شمع دو یه اشنا
ما ټوله شپه په دربدو تېره کړه

مینه د ستا زما نوي زړه سوزوي
هسې لمبه دې په اېرو تېره کړه

دا ما خاطر ستا له خاطره اشنا
د هجر شپه مې په سلګو تېره کړه

○



○

رقیبه په خبر راغلې د اشنا خبرې کړه
پرېږده نورې نورې بس هم دا خبرې کړه

څو به پټې سترګې زه د اوښکو ګرځم
ګلفامه راشه راشه دغه بیا خبرې کړه
نورې دا غمزنې د جفا خبرې پرېږده
کله کله یادې د وفا خبرې کړه
سود مې کله کېږي د ساقي په پیمانو
د تورې میخانې او د مینا خبرې کړه
نم مې شو د سترګو سپین د اوښکو په سیلاب کښې
بس نور شه راته وایه د خندا خبرې کړه
په خود نه یم تپوس راځنې مه کوه د دهر
اشنا ما لیونی ته د صحرا خبرې کړه

خاطره چې ونه کړې د بل چا د غم سودا
د یار د تورو زلفو د سودا خبرې کړه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



یا د شرابو نه نشې وباسه
یا خو ترېخ زما له خُلې وباسه

یا مې د زړهٔ رازونه مهٔ لټوه
یا دې صحرا ته قافلې وباسه

څهٔ لټوه تنګه دنیا که شوه دبه
زر مې د ژوند نه لاوځې شپې وباسه

د آشنا یاده نور مې مهٔ تنګوه
لهٔ دې سرای نه قافلې وباسه

اور د خاطر د زړهٔ پهٔ خونه شو بل
ستړې د سترګو نه یې مړې وباسه



د سحر باده دا ارمان یوسه
یوسه پهٔ لوری د جانان یوسه

راشه ارمانه دا ارمان دې لرم
کهٔ مې خوماسره د ځان یوسه

چې دې د حُسن چمن تربے نهٔ شي
راشه دا وښکو مې باران یوسه

تهٔ چې مسکے شوې زما زړهٔ ته ښکلیه
دا د غمونو ډک جهان یوسه

خوبه زر راشه د اشنا سره
دومره خو راشه دا چشمان یوسه

لږ د خاطر کړه شمع روڼه خاطر
بهار دې راوله خزان یوسه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

لکه ګلي له مسېدو ډکه شه
بانړه دانيغ ګره له اغزو ډکه شه
چې ستا خوږو زلفو ته نښه نه شوه
زما څنګل له زولنو ډکه شه
که يې هر څو درسره فندونه
خو زما مينې له پښتو ډکه شه
چې مې ژوندون له رنګينونه ډک شي
بيا په غصه کښې له نشو ډکه شه
بس پښېماني له زړه نه وباسه نن
وېرېږه مه له اشارو ډکه شه
چې تا مې هم ګرېوان ته ځيرې وږي
هم ستا کوڅه يې له تېرتو ډکه شه
ښه دې زړه تش کړه چې بيا بيانه وايې
فضا زما له اسوېلو ډکه شه
بدخواه چې لاس په سينه کېږدي درته
د خېبر څانګې له اغزو ډکه شه
خاطره يار دې په خېبر کښې اوسي
تېوله دره له سپېلنو ډکه شه

○

○

ستا له سپينه مخه زار زما زړګے شه
هم دا ستا نه سپېلنے او هم لوګے شه

ستا په ژبه باندې هره ژبه خوند کا
اے اشنا يا اپرېدے يا پښتو دے شه

زه او ته د چا ژړا او خندا څه کړو
زما اوښکې دې باران ته پسرلے شه

اوس د ګل غنچې ته لرې شه رقيبه
يا پخپله باندې ګل شه يا ازغے شه

زه خاطر دې نور خاطر کولے نشم
اے رقيبه که پوهېږې نو سړے شه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د هجران په شپه ډیوه په لاس کښې راغله
خدای خبر چې چرته تله په لاس کښې راغله

رقیبان خو دې اوس تهول راله راتېر شی
چې یار راغے نو وصله په لاس کښې راغله

چې مې صبر اُمید دواړه پسې خوړ کړل
چې لۀ ځانه خبرېده په لاس کښې راغله

چې د سترګو د سرو شونډو او د زلفو
تصور یې یو څېره په لاس کښې راغله

چې په تلو کښې شو مسکې نو بیا به راشی
اے خاطره بس راشه په لاس کښې راغله

تر څو ته مې نږدې کېږې کله کله
په خوبونو سرپے مې کېږې کله کله

د دردمندو نظر هغو له په کار دے
چې دلاسه دې بسۀ کېږې کله کله

چې اشنا دچا نه ورک شی موندے نشی
پسې ځان هسې ورکېږې کله کله

ښکاری یار مرور نۀ دے اے خاطره
په لېمو کښې چې اوسېږې کله کله

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ستا د ښکلي مخ شمع چې مسره شوله
جوړه په محفل کښې توره شپه شوله

راشه لږه واوره د اُلفت قصه
بس دے نوره نه ؤکښې چې نیمه شوله

ډیرې وعدې ښې وې لږې لنډې وې
اوس دې هر یو کال راته وعده شوله

تا چې د خاطر خاطر و نه کړلو
ښه شوه ورو ښه شوه اشنا ښه شوله

○



○

بیا به سره ګورو اوس ځواني ده درومه درومه
څوک کړې دومره غم خو دیواني ده درومه درومه

اوس ته ایله راغلې چې بس وخت د ځنکدن شو
بیا راته ګرانیږې آساني ده درومه درومه

وې یې چې بازار کې د ښایست دے ګرم شوے
هر شے په کښې ختلے دے ګراني ده درومه درومه

نۀ ؤ او ته خاطره نو په څۀ سره خوابه ئې
مینه خو هم دا پښیماني ده درومه درومه

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

○

شکر چې نهٔ هم ستا د ښېرې شرمه
اوس دې چې نهٔ ښکلیه دکوڅې شرمه

نهٔ به په ځان څهٔ وکړم چې راشې تهٔ
واړه دې پهٔ طمعه کښې ذرې شرمه

دومره درنېږدې یم کهٔ څو لرې یم
لرې به شم نورکهٔ درنېږدې شرمه

نن خو دې خاطره چې سبا تهٔ وے
پوه دې نهٔ د مکر پهٔ وعدې شرمه

○



○

کله چې پهٔ فکر کښې د ستا شمه
لاړ شمه لهٔ ځانه خو بیا راشمه

تهٔ کهٔ لرې ضد نهٔ خو پښتو لرم
اوس در سره څرنګه پخلا شمه

خیال او تصور ته به سلام وکړم
نهٔ کهٔ د خپل زړهٔ پهٔ تماشا شمه

تاو چې شی د زړهٔ نه ستا د مخ لمبې
کړم چې بستا د زلفو پهٔ سودا شمه

نورې دې د مینې لارې سمې کړه
خدای خبر چې کوم پلو خطا شمه

عشقه راشې ځای لره دې راوستم
اوس به نهٔ د ستا نهٔ د دُنیا شمه

نن دې د پرون وه د راتلو وعده
نن څنګه پهٔ طمع د سبا شمه

وړې چې غریبو نیولی راکتلی دی
لږه بهٔ خاطر ته پهٔ خندا شمه

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



دلا رې خاوره شرم د ښېرو خپې وتلې يمه
اشنا په تا پسې له تلو خپې وتلې يمه

د آشنا مخه نور مې سرې ټپ وسېله نه شي
نه خو د اور او د اوبو خپې وتلې يمه

په ښه ښېره به دې نه لږ ووړ نانېده مه اشنا
زړه مې اوس پوره دے د ښېرو خپې وتلې يمه

تا خو به نور راته خندلي وې چې داغله وش
که په ژړا دې د کوڅو خپې وتلې يمه

دغه داغونه مې دي بس دومره خاطر مې وش
نور د کړلو د کلو خپې وتلې يمه



تو به خنګه تېرېږي په هوښيار باندې وختونه
نا پوهه هسې تېرېږي په قرار باندې وختونه

هېچرې هم سخيان خو د سبا غمونه نه کا
له شومانو نه تېرېږي په خروار باندې وختونه
دا تېر وختونه پېرېږده له انکار سره چې تېر شو
ته راشه نور دې سم کړه په اقرار باندې وختونه
نه دے هسې کرم چې څوک په غم کښې درو ند ښکارېږي
په هرڅا باندې تېر شي په خپل وار باندې وختونه
ګوره د هغو په نهر کښې نوره سودا نه وک
تېر چې شي د ښکليو په بازار باندې وختونه
ټکه بار هسې تېرېږي وخت په روغ او په بيمار
وډر يږي نه ودرېږي په بيمار باندې وختونه
د مغ دې تصور کرم ځکه مغ مې د اسې تور دے
خبر نه يې، کړل تېر مې په انکار باندې وختونه

مانځنګه به لتهون کړے د دنيا له غم نه خلاص يم
خاطر ما ښکلي تېر کړل په خپل يار باندې وختونه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ما په مثال لکه پتنګ وګڼه
ته دې د شمعې غوندې رنګ وګڼه

که مې کوثر شو لو نصیب د دیدن
بیا مې شهید د عشق په ننګ وګڼه

زمکه بستر وی لېونو ته مُدام
زړګیه ته یې هم پالنګ وګڼه

لکه چې خومره ستا غمونه دي وړې
پراته مې ټول په زړګی زنګ وګڼه

خاطر کچکول د ګدا واخستلو
اشنا دیدن په خان قلنګ وګڼه



د ستا د خولې چې فیصله ماته شوه
نوره د زړه مې حوصله ماته شوه

شونډې دې مې د پېغلې نه وې
په زړه دې بله څه راتله ماته شوه
نور مې ساقي څه جُرم نه دے کړے
تشه لاسه مې پیاله ماته شوه
که په عوض کښې یې هر څه غواړې ته
دا مې په برخه رسېده ماته شوه
لاس مې یې واکه چې جامونو ته ځي
ماښام خو نه دے چې روژه ماته شوه

خاطره پرېږده د دردو غمو ترپې
نوره زما او ستا ناغه ماته شوه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نور زهر په خوږو کتبې د افسون مه راکوه
دا بس دے اشنا نور دا نهږه چاودون مه راکوه

ته تل کړه ستمونه خو په خپله اے اشنا
سزا د رقیبانو په لمسون مه راکوه

چې خو وکړې وعدې نو هومره لا ښې یې وعدې
دا دې وی در پاتې خو زبون مه راکوه

کۀ نۀ چرې په خود وے نو په تا شیدا کېدم
په سترګو ماله ډار بیا د جنون مه راکوه

هر څو کۀ نۀ خاطره د اشنا اجل ته مخ شوم [1]
د ګور مبارکي خو په ژوندون مه راکوه

[1] دیوان او منزل نقد کتبې مصرع داسې ده ، هر څو کۀ نۀ خاطر د اشنا اجل ته شوم

ته خو وایه نۀ به خندا کړم
زړګیه لېونیه
خندا به کړم او خندا به نۀ کړم
زړګیه لېونیه

تا خو وې آبادي پرېږده ، ما خو پرېښوده دلته خندا دی
په صحرا چې ګرځېده کړم
زړګیه لېونیه

چې اشنا کړې سترګې پورته باڼه ستا په لور دا دروغي
نۀ یې کوم طرف کاږه کړم
زړګیه لېونیه

نۀ خاطر در ته حېرېږم چې په خندا باندې راوینې شوې
چې په خندا دې اوس وژړا کړم
زړګیه لېونیه

[1] منزل نقد او دیوان کتبې (ورکه) دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ځیګر مې شي کباب په لمبو او دو ولګېده
په ما دې یک تنها که په هر لوري ولګېده

چې لرې دي زړه دي شوم د وصال په تمنا
د ستا د ګنګرو کانو په ما شوي ولګېده
ځیګر مې تش ګوګل دې راشه وګوره تماشه
د سوو فریادونو ټنګ ټکور ولګېده
زړګیه اُمید لنډ کړه پس له دې نو د له وصاله
بېلتون دې ځواني مرګ شي او س یې زور ولګېده
سپین مخ دې را ښکاره کړه د نقابه تکه تمر
ور بل دې پرې د ور ښځو غوندې خور ولګېده

خاطره خدای خیر که بیا دیدن وکړي دیار[1]
چې بیا د غمازانو داسې زور ولګېده

اشنا وې دا لږکي دی د خاطر داسې پلو
رقیب وې ما زیګر شي په تش[2] اور ولګېده

۱ منزل لر نسخه او دیوان خاطر کښې داسې دی: ځکه خاطره خدای خیر که بیا دیدن وکړي دیار
۲ منزل لر نسخه او دیوان خاطر کښې "تش" لیکلی شوی دی چې معنی بدلوي او قافیه غلطوي



لوی دریاب د مینې نه شي په واړه زړه
شومه یاره بیا د ستا غوندې په نه زړه

چې به خله کوي یو او په زړه بله
د هغه سره به مینه کړې په څه زړه

سوی رنګ ته مې لږ وګوره دلبره
ما نیولې ستا د حسن په لمبه زړه

بې ګناه ستا په انتظار کښې شمع رویه
د هر ستوري سره پورته مې خاته زړه

بیا یې خوب واړه تښتولو او هیبت شي
د هجران چنې چې وشي په ودّه زړه

یو غم نه دی چې یې وکړې اې خاطره
د هر غمونه دی کوه یې په ساړه زړه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



داسې بله شپه به پهٔ نصیب ســره راځي
پهٔ عمر کښې راځي خو د رقیب ســره راځي

خوشحاله وی پهٔ غم کښې ځمٔ ابـــــدا ره شامطلم
را دروی خوشحالي دې د حبیب ســره راځي

څوچې پهٔ تندی یې د ازل لیــکلی نهٔ وی
دومره زحمتونه د غــریب ســره راځي

خندیږی اوګـډیږی ســرهٔ ګلونه د صبا
نغمې چې د بهـار د عندلیب ســره راځي

نور خلق کهٔ رغـیږی پهٔ دارو د طبیبانو
خاطر ته مــرضونه د طبیب ســره راځي

لهٔ متن لیـنه اردیوانهٔ خاطر کښې المنظـهم، نشــنه دې مصرعه یې وزنه اوپه ســتی کړی
لهٔ ـظــرچې ، ترکیب مصـرع بې معنی کړی



عکس د ستا نما د سترګولهٔ زنبار نهٔ وځي
د زړهٔ لهٔ کوره مې بېلتون پهٔ یو ګذار نهٔ وځي

داســتا کوڅې له زهٔ د دوږخ ځان پهٔ خیال نهٔ دځمه
چې تاو راتاو نشی د ستنې سوم نه تار نهٔ وځي

اے شمع دو یه راشه نور دغه ضدونه پریږده
چې پهٔ مئین دې هره شپه د انتظار نــهٔ وځي

د ستا د عشق پهٔ سمندر کښې ځې ژوند تېرېږي
چې په ربښتیا خو سمندر وی د انګار نهٔ وځي

شپې د اوبنکو د خاطر پسې ایله زیاتې شوې
ښکاری د ستا د ځوانۍ اوږد شو بهار نهٔ وځي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې کتې در ته لهٔ ډېره هجره نهٔ شم
دستا سترګې مې کوځې د زړهٔ نه وځي

خدایه دې هغه وخت را نهٔ ولي صنمه
چې مې ستا د دیدن شپې د زړهٔ نه وځي

کهٔ دسترګو نه مې وځي دستا سترګې
دې وېل کهٔ مې جرګې د زړهٔ نه وځي

موده پس سره یو ځای شو په محفل کښې
ستا بانه مې نن نېزې د زړهٔ نه وځي

جمع زړهٔ له اشنا چې زهٔ دستا یم
چرته زلفې مې خورې د زړهٔ نه وځي

دمخ لرې کړه پلو زهٔ دې لوګے یم
چې مې ستا دمخ لمبې د زړهٔ نه وځي

ترهغې به دې رقیبه زړګے وچوي
چې خاطر د معشوقې د زړهٔ نه وځي

○

زړګیه تا وې چې درد و نه څهٔ دې
دا په ګوګل کښې دې ترګونه څهٔ دې

زړهٔ په بهوې وله څوک یې وینی
وهه وهه دا سترګکونه څهٔ دی

بس خو کهٔ مخ دے نو ګلنامه دے ستا
دا د خورشید قمر مخونه څهٔ دی

نهٔ ده اسانه اشیانه مې د زړهٔ
لا د ستم دې تندرونه څهٔ دی

دستا منزل دې دومره نور لرې شی
ګودر پرېندو ته تیندګونه څهٔ دی

کهٔ چې ذرې کا نور نو لا به بښهٔ شی
ستا په فضا لا وسعتونه څهٔ دی

چې مرور وی یو ساعت یې ګوره
چې وی پښلا نو بیا کلونه څهٔ دی

چې مرور یې پېښېدے خو نهٔ شې
ما ته په غلا غلا دیدنونه څهٔ دی

دا په خاطر ګلفامه ستا د شونډو
وی په خاطر دې پرهرونه څهٔ دی

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې پښېمان نهٔ شې پهٔ بیا کښې څهٔ دی
پرېږده راوګوره پهٔ دا کښې څهٔ دی

زما پهٔ اوښکو کښې خندا ده وَرستا
یاره د ستا پهٔ دې خندا کښې څهٔ دی

شمعې د ژن شپې نه سبا جوړه
سبا به مړه وې په سبا کښې څهٔ دی

زړهٔ مې یې ستړے پهٔ توپونو کړلو
ګُله دا ستا پهٔ دې ګډوا کښې څهٔ دی

خاطره ته چې ماته نهٔ شې کښے
لږ ده مې پوه کړه چې پهٔ ما کښې څهٔ دی

ګُله د ستا د خندېدو شپې دی
زما د اوښکو د شېبو شپې دی

پهٔ دا لنډ تنګ وخت کښې مې حال وپېژنه
دا مې د ژوند د تېرېدو شپې دی

پهٔ تا اختر اوس د ځوانۍ راغلے
دا توږلې شپې د پسرلو شپې دی

د بخت سپوږمۍ ته به راخېژي ګله
اوس مې د ژوند د محفلو شپې دی

دا زهٔ خاطر درنه تپوس کومه
د بېلتانهٔ دې نورې څو شپې دی

خاطر د وینو غرغرې وکړلې
دا یې د ژوند د ختمېدو شپې دی

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د ستا په غم کښې خوشحالۍ پټې دي
په دې زندان کښې ازادۍ پټې دي

زړه که ته غواړې نو لیوے خونړیم
د مخ سره زلفې رسۍ پټې دي

په خورو زلفو کښې راګورې په چل
په دې ځنګل کښې دې هوسۍ پټې دي

په کومو سترګو به بیا بیا درځمه
په اشارو کښې دې ټګۍ پټې دي

خاندې چې جوړې شول د زړه زخمونه
ایله په وینو کې خوږګۍ پټې دي

څه شو په ځله چې دې رخصت راکړو
ستا په نظر کښې تسلۍ پټې دي

په سره سرو ګورم تورو سترګو ته دې
چې په کښې څه بلا مستۍ پټې دي

ستا له سینګاره مې ځوانۍ شه لوګے
ویرې په خاورو کښې ځوانۍ پټې دي

د ستا په خیال زما خاطر شو ایرې
خو د اُمید په کښې سپرغۍ پټې دي



زما چې دا مدام دغه دلبر ته سترګې دي
نورې نه وینمه سترګې که هر چرته سترګې دي

له هره دره ورو تلې سترګې مې آشنا
که وړې دي که تورې خو دې در ته سترګې دي
نه تل را ته مرسته په دې عمر مه شه جوړه
زما خو هم ګلفامه دې پرهر ته سترګې دي
د مینې سمندره سترګې غرقې مې کړې تا
وتلې مې له تا کله بهر ته سترګې دي
په اوښکو مې کړه ستړه وړه ونه مې د عشق
که ګل یې د مخ راځي خو ثمر ته سترګې دي
را وه چې خبرې شه وړه په وخت سترګه د سبا
زما خو هم ختلې دې سحر ته سترګې دي

خاطره که څو غواړې نو زړه له تا د یار دیدن
نه نه شم ورکتلے زما نمر ته سترګې دي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نن خو ما ته هسې بله دنیا ښکاري
تا چې نهٔ وینم نو خله دنیا ښکاري

تنګ ګوګل یې د دنیاشي چې ته یادشې
بې تا تنګه لاګوګله دنیا ښکاري

بې له مانه هسې ګله صحرا ښکاري
بې له تا نه هسې ګله دنیا ښکاري

چې په هجر و وصال نه پوهېږم
داوستا ده که مې خپله دنیا ښکاري

هېڅ خاطر دې خزان و نهٔ کړو خاطره
شګفته خره او بې ګله دنیا ښکاري



زړهٔ مې کهٔ هر څو رانه هر څهٔ غواړي
هېڅ نهٔ دے خبر چې هر څهٔ زړهٔ غواړي

اے ماشومه زړهٔ ته رانه بنهٔ واوړې
مخه رانه غواړې چې مانهٔ غواړي
تل به بې پروا وې ګرنګونو نه
څوک چې خپل منزل ته رسېدهٔ غواړي
زړهٔ او د نظر ځنې دې خلاص کړمه
نور دې لا ښابست راځنې څهٔ غواړي
هر سړے د ستا د دیدن وړ نهٔ دے
راځو هم زړهٔ غواړي هم لېمهٔ غواړي
خبر نه کهٔ ذهبي شم خان ته ګران شومه
بد هم په کېږي وی چې څوک یې بدهٔ غواړي

خلق پرې تېر شوي له سرونو نه
خُلهٔ ورنه خاطر په تشه خُلهٔ غواړي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زما زړهٔ او د ستا سترګې سره پېږي[1]
نور به بد کا چې پهٔ دې منع کښې څاڼېږي

کهٔ خبر نهٔ راکوې خبر دے ښهٔ پهٔ مهٔ کړه
مئین زړهٔ چې ستا لهٔ مینې نهٔ صبرېږي

کهٔ دې غم په ما انبار وی پروا نشته
د ګلونو لاندې څانګه نهٔ ماتېږي

چې مې ورتې اشنا وائي خفه شوې؟
زړهٔ مې ښهٔ شی په ګل ګل کښې نهٔ ځائېږي

زهٔ خاطر داسې هیبت ستا د راتلو کړم
لکه پاڼه چې پهٔ ونه کښې رپېږي

[1] پوهېږي



ما وې نن به مې زړهٔ وچوې خو دردونه دی تېرېږي
پېرېږي دهٔ څهٔ کړې تپوسونه خو وختونه دی تېرېږي

جوړېږې تا اراده کړې د راتلو زما پهٔ لور دی
نن چې سترګو ته د وړاندې مثالونه دی تېرېږي

جانانه زهٔ چې زغملے شم کهٔ وی د ستا د لاسه
هر څو کهٔ ستمونه طوفانونه دی تېرېږي

ستا د حسن پهٔ بهار کښې یاره نورې رنګینۍ نشته
د دهر پهٔ خاطر باندې غمونه دی تېرېږي

[1] مترلیقه امر دیوان کښې د الفاظ نشته چې مصرع پې پهٔ معنیٰ کړم دا

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څه چې پرې په ما زما د یار سره جوړیږي
خبر دے زما زړه د انتظار سره جوړیږي

کله په یو رنګ شي بیا سل ځل په بل انداز
سل ځلې دیدن د خپل خپل وار سره جوړیږي

وګوره واړه خندګه په سترګو کښې اقرار کا
بس خو د یار شونډې د انکار سره جوړیږي

څه په خاطر کیږي نن د ښکلیو په صفت
هغه وخت راغلے دے چې دار سره جوړیږي



د وخت د ګذاره نو مې داغونه نه جوړیږي
زما سره سپرلیه ستا ګلونه نه جوړیږي

یو ځلې مې وران کړے ستا تصویر راله اشنا
عمر مې زما هغه فکرونه نه جوړیږي
راضي شه د یار غمه د دُنیا د غم سره
یو کور مې د ګډ زړه په کښې برجونه نه جوړیږي
اے زړه ته راته وائې چې یار راشي څه به کړو
لاخو به څښې وړاندې تعبیرونه نه جوړیږي
زه خو یې اشنا لا د پښو لانه لمبې وم
د عمر لېړونو ته زنځیرونه نه جوړیږي
زه تا ته په قدم کښې او ته ما ته وې ولاړه
زما او ستا په منځ کښې پېغورونه نه جوړیږي

خاطره یو ورځ نه ده نن زړه جوړ او سبا وران
چې ورېږ کوي غمونه هغه زړونه نه جوړیږي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

نور به ایله څه د لېونو نه پاتې کېږي
ګوره چې یې کړي دي د پښو نه پاتې کېږي

زړهٔ مې چې اشنا د ستا د تللو نه پاتې کېږي
خود به راته غم د خوشحالو نه پاتې کېږي

پېڅې مې د زړهٔ د لمن ورځ به دې لاړې
غم دې په کښې وړېږي د نیوو نه پاتې کېږي

نهٔ بلېدهٔ مې او دمغ دې . دا مې زړهٔ وهٔ
ګوره چې به سکور د سرو لمبو نه پاتې کېږي

تا چې په کړو وړو د عشق بوټي تلم زړهٔ کې
څنګه سي لاړې د پرندو نه پاتې کېږي



وي به مې ګواه سبا دا سپین سپین دېوالونه
دغه تور لوګي چې د ډېوو نه پاتې کېږي

یاد مې د دنیا له یاده مخکښې مخکښې سي
څنګه به د ستا د یادېدو نه پاتې کېږي

باده د بېلتون چې مې په لوړي بیا را نهٔ شي
سترګې مې د یار د تماشو نه پاتې کېږي

زړهٔ له مې دارو دی او کچل مې د بصر دی
خاورې یې خاطره چې د پښو نه پاتې کېږي[1]

بیا را غلله شپه او ځلند ستوري یار را نغي
بیا به مې خاطر نن د خوبو نه پاتې کېږي

○

[1] د دیوان کښې مصرع داسې ده : خاورې دې جانانه چې د پښو نه پاتې کېږي

[illegible]

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ستړګې دې کړه برېندې چې وختونه وارخطا شي
زلفې کړه پرېشانه چې ګردونه وارخطا شي
څو به کړې وعدې راته د شپې او د سبا
ډېرې شپې وعدې کړه چې خوبونه وارخطا شي
نهٔ درته لهٔ داره پهٔ محفل کښې کښېنے نهٔ شم
ستړګې چې راواړوې نو نړونه وارخطا شي
عقله چې یې وینمه زلفې تار په تار
بس خورې کړه ګرېوان ته یې لاسونه وارخطا شي
دومره اے زړګیه ! ځان ته مهٔ ښکلوه ښکلے
وبه چوې لهٔ واره کهٔ دردونه وارخطا شي
غلهٔ سره د مینې په محفل کښې چې یو ځاې شي
نړونه وارخطا شي، چې رنګونه وارخطا شي
مل ئې کړه د زړهٔ مې کهٔ پهٔ خُلهٔ نهٔ بیانیږي
داسې ادا وکړه چې دا دونه وارخطا شي
ځکه زهٔ خاطر دې دومره وصف کړم اشنا
پرېږده چې د خلقو درته زړونه وارخطا شي

میاشتنی «ژوندون» پېښور اکتوبر ۱۹۵۹ع

پهٔ اَرمان د نادانۍ شي چې هوښیار شي
خوشحالي او خوبې ورک شي غم یې کار شي

تخت و تاج او بادشاهي یې پهٔ کار نهٔ وي
پهٔ اَرمان د دروغ صورت شي چې بیمار شي

پهٔ توبه باندې وېرېږي بد ښکاري چې نړېږي
ښکاري ښهٔ چې پهٔ ځوانۍ کښې توبه ګار شي

لېونۍ پهٔ کانړګي ورته خاندي
هوښیار د ځنګدن پهٔ یو ګذار شي

خپله غمه د یار غم یې لبن مېلمه دے
تا به وکړه مه وار وکړه که دې وار شي

تهٔ دې خپلې ستړګې وګوره چې څهٔ کا
د خاطر زړګے به څرنګه قرار شي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د دې دنيا نه چې ګلان ورک شي
غږ د بلبل به په بوستان ورک شي

دا ته چې ژاړې ستا ژړا هيڅ نه ده
لکه درياب کښې چې باران ورک شي

هومره مې سود په ليونتوب نه کېږي
چې په مشکل کښې مې ګريوان ورک شي

څو به لټومه ستا ورک شوي پلونه
چې د خاطر په کښې چشمان ورک شي



چې يې روڼ دے د ليمو په پېمانو شي
سو دې کله بيا د لب په بهانو شي

څو چې خداې را کړے نه وي نو به ژاړم
د خيبر فصلونه تل په بارانو شي
که د ستا په نوم بدنام يم پروا نشته
ليونۍ غږونه تل په ليونو شي
زه د ستا ليونو سترګو نه ځار نه کړم
که خوږونه دې د سترګو ليونو شي [1]
هغه شپه چې مې د ستا زلفې په لاس ورې
دغه شپه د سپېلنۍ د وږاند بنو شي [2]

چې د نېږه ګوري ته دې ناشي پروا مه کړه [3]
اے خاطره خاطر تل د مېلمنو شي

[1] کله دا دواړه شعرونه منزل لره کښې نشته
[2] ديوان خاطر کښې دا مصرعه داسې ده: چې د نېږه ګوري راغله ورځې سبزي

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا چې خوږې زلفې کوڅې ته راتاو شي
زما د زړه ځنې رسۍ راتاو شي

په هره پېره لوېږه کښې تاو شي
لکه وېرانه بړ بوکه را تاو شي

نه به مې بیا کړي لېونے د غرونو
نه به دا ستا سترګې هوسۍ راتاو شي

په زړ بوږې خوبه وا نه ډېم له تا
نه به خاطر ستا له ځوانه راتاو شي

وړاندې به مې دا وې چې کاته به شي
اوس چې په ژوند پوره شوم وایم څه به شي

وایم ستا بنږو ته د زخمي زړه نه
بس دے کله وی داسې نو ساړه به شي

نه ومه له داسې جدائۍ خبر
ما وې په ساعت کښې تله راتله به شي

وېې کړو تپوس چې راځه خله غواړې
ما وې چې کله راشې نو خراب به شي

ستا د حسن شمع او دا شوق زما
نه يې پرېږدي دواړه سره مړه به شي

هر وخت چې ژړا کړي خندا نشته دے
زړه خو د خاطر اوبه اوبه شي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


خزان لاړ شي بهار راشي ګلان خوشحاله شي
بلبل يې د چمن وي بوراګان خوشحاله شي

ښخو مه راګوره مخ دې بل خوا واړوه
پرېږده چې نا پوهه رقيبان خوشحاله شي

شمع چې بلېږي د محفل د پاره خاندي
زړه کښې داسې وايي چې عاشقان خوشحاله شي

راکړه جفاګانې، ستمونه کړه غمونه وک
زړګے د خاطر وچوه خو چې خان خوشحاله شي



راشه په ګوګل کښې د جګر ګو خبرې نه شي
چرته چې په مونږ کښې د پردو خبرې نه شي

ډېره شپولَه راشه چې له يو بل نه خبر شو
ياره په يو شپه د ټولو شپو خبرې نه شي

وايمه له ځان سره چې دا به ورته وايمه
راچې شي آشنا په حوصلو خبرې نه شي

زه او ته چې وويښو له ورايه سره پوې شو
چا وې چې په سترګو کښې د زړو خبرې نه شي

ياره ستا د هجر اوږدو شپو شوګيره کړې يم
ګوره چې مې اوس په اسويلو خبرې نه شي

خداې خبر خاطره زه بيا چرته ته بيا چرته
پرېږده اوس په تللو کښې د راتلو خبرې نه شي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



دا ستا پهٔ سترګو کښې به څهٔ پاتې شي
رقيبه يار کړهٔ ې پهٔ خُلهٔ پاتې شي

ستړے مزدور سحر وختي پاڅيږي
پهٔ شوګيرو مئين ووږهٔ پاتې شي

يو خُلې نيغ پهٔ دې لاړ تږه شه اَشنا
چې دې کاږهٔ واږهٔ کاتهٔ پاتې شي

افسوس چې ستا پهٔ خيال کښې څهٔ ښکاريه
دغه ارمان به ې پهٔ زړهٔ پاتې شي

وستايه ډېر د يار تراخهٔ خاطره
چې پهٔ کتاب کښې دې خوابږهٔ پاتې شي



زړهٔ پهٔ دې نهٔ دے چې ناولے مخ دے
چې کوم يې خوښ شي هغه ښکلے مخ دے

مخونه ډېر دي خو دا مخ ې خوښ دے
والله يهٔ ټولو کښې وتلے مخ دے

پرېږده چې اوښکې ې بهيږي پهٔ مخ
دا بې ګناه جانان رټلے مخ دے

څهٔ وشو تا کهٔ ديدن بند کړو پهٔ ما
خاطر پهٔ زړهٔ کښې ستا ساتلے مخ دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوږ خوږ د مینې په ترخو کښې انتظار دے
ښکلي تماشه په تماشو کښې انتظار دے

ستا لنډو وعدو چې په ما خومره اوږدې کړې
ښه دے چې د ژوند په ورځو شپو کښې انتظار دے
مه کړه ضبطه مه چې راله او ښکې وچې نه کړې
ورېږي دې د چا په دې شپو کښې انتظار دے
تا چې د وفا پلو په ما باندې ونه نیوه
ما ته ځه د هجر په غمو کښې انتظار دے
لاړې د اُمید د زړګي شنې پاڼې مې وچې شوې
بیا درته سپرلیه په راتلو کښې انتظار دے
ما وې چې کله نن نه وي سباله به دې خوښه شي
ورځ مې درته کړه په اسرو کښې انتظار دے
کله به شي ستا د حُسن شمع راته بله
ګران راته د زلفو په تیارو کښې انتظار دے

ښه ده چې خاطر دې دومره مخ ته لا کتلی وو
ښکلیه ستا دیدن په سرو لمبو کښې انتظار دے



څوک چې ستا د ګرانې مینې طلبګار دے
هغه کله له غمونو نه وزګار دے

ستا سپنګار زما په سترګو کښې غمېږي
چې په کوم لورې نه ګورمه بهار دے
د منصور خو هسې نوم دے په دنیا کښې
که یقین دې شي نو هر عاشق په دار دے
خندوې، تغیروې چې مې ستا مینه
بس هم دغه مې خزان او هم بهار دے
دا رقیب دې څه په مخکښې مخکښې کیږي
بس د ستا را باندې هر منت ګزار دے

که دې یار له سترګو وتو خاطره
خپل غزل مخې ته ونیسه دا یار دے

میاشتنۍ غُنچه پېښور
اګست ۱۹۶۰ ء

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

خدایه خومره بې وفا زما دلبر دے
چې لۀ غمه یې زۀ مرم پۀ دۀ اختر دے

دهجران د لاسه شب و روز ژړېږم
څکه داسې یې پۀ اوښکو ګرېوان تر دے

یا خو زۀ ورته نظر کولے نۀ شم
یا خو دے وړې پۀ لېمو ابې نو بدر دے

اوس یې سود پۀ بل بشر د زړګي نۀ شي
چې لیدلے یې د یار بنګلے بشر دے

تور بانړۀ د یار دغشو پۀ مثال دي
چې ویشتلے یې زما د زړګي سر دے

دریغه زۀ خاطر خو پوهه پۀ سپل قصور کې
چې پۀ څۀ باندې زما نه مرور دے

○



○

ما وې ځان را ته اشنا د ستا پۀ څېر دے
دې وې ورو دوستي به ته پوهه شې څۀ واې خېر دے

دې وې زړۀ کۀ څېرې ستا زما پۀ زلفو
ما وې ستا هر یو کلپ ورته کاوشې دے

دې وې زۀ یمه هر سحر پۀ مېړو روړنه
ما وې زړۀ زما د لوېو غرونو شېر دے

دې وې بیا ته مخ ښکاره کړه کۀ پښتون یې
ما وې هر پښتون پخوا لۀ سره تېر دے

ما وې زۀ خاطر دې هر وخت یم پۀ طمع
دې وې را شه دلته کښېنه غم یې ډېر دے

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شاید چې حُسن د اشنا ئې د لبر نه ډک دے
د زړهٔ جهان ئې د لوګو د اسویلو نه ډک دے

خوښه ئې ستا په بڼو غشو ده ویشتنه د زړهٔ
ګنی وطن خو هسې یاره د ازغو نه ډک دے

د ستا نصیب شه خوشحالی د بې غمی خوبونه
زما د خوار غریب نصیب د شوګیرو نه ډک دے

نن مې مخ ته مې لهٔ ورایه ناخبر کتلی
نن را ته ښکاره دا جهان د پلوشو نه ډک دے

راشه ګلونه ګواهان دی په صحرا کښې زما
چې ټول چمن زما د اوښکو د شبنم نه ډک دے

دا حسرتونه دا غمونه تنګ ګوګل زړګیه
لهٔ دې خو ګور ښهٔ دے هر څوکهٔ د تیارو نه ډک دے

زړهٔ مې یوه د لیونتوب په کښې سوداګر له
بازار د حُسن خو لهٔ ډېرو تماشو نه ډک دے

همدمه مهٔ را یادوه دا تېرې هېرې قصې
زما زړګے خو مخکښې لا د ګیلو نه ډک دے

زما خاطر چې لهٔ شکونو لهٔ فکرونو ډک کړو
د مخ کتاب دې راله رالېږه د قیصو نه ډک دے



تک تور سوے د ستا سوے وربل دے
چې دې اور د بنګلې مخ ترې لاندې بل دے

چې څو ځم په مخکښې لا منزل زیاتیږی
اشنا ستا د دې منزل څنګه منزل دے

زړهٔ مې شک په ګومه لاړ دے سودائی شوم
نور مې هیڅ معلوم نهٔ دے څو ستا پل دے

چې اشنا دې په کښې اوسی اے خاطره
خبر وګڼه حرم که څو شډل دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خومره ږیري پهٔ زړګی باندې چې غم دے
د آشنا سود به پرې نهٔ شی وائی کم دے

زهٔ چې مست پرېشان او سرګردان یم
هر یو غم یې لکه زُلفې پېچ و خم دے
د هجران د لاسه شب و روز ژړېږم
راشه یو واري پهٔ سترګو مې تور تم دے
هغه خاوره مې دارو ده کهٔ چا راوړه
پهٔ کوم ځاې باندې یې ایښے چې قدم دے
ټول عالم یې و هر صفت د سخاوت کا
ګیله څهٔ کړم چې د خپل نصیب مې کم دے
زهٔ خوشحاله مست شوم پهٔ خندل یې
خلقه ما او پهٔ جانان کښې کوم یو کرم دے
چې دلبرې پهٔ ژړا پورې نن خاندی
نن مخ شوے مې د سترګو کله نم دے

حکیمانو لره مهٔ درومه خاطره
د یار ښوندې دې پرهر له مرهم دے



ستا پهٔ انتظار کښې ماته کال څهٔ دے
دومره لا ماندہ نهٔ یم ستا خیال څهٔ دے

سوزی هم هغه چې پرې بلېږی اور
خاندہ لے اشنا تاته دُغال څهٔ دے

تاکهٔ پهٔ شالهٔ کښې پټه ولیدم
بیا به داسې وائې چې مشال څهٔ دے

زهٔ دې هر یو غم د زړګی داغ کړم
ماته لا د ستا پهٔ جبین خال څهٔ دے

ما خو درته وېل ږېړه مې مهٔ کوه
وګوره خاطره اوس دې حال څهٔ دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې نږه ؤ ې ستا په تور دے په بل تور ې پېرزونه دَ
نظر چې ستا په لور کړم په بل لور ې پېرزو نهٔ دے

اے مجبوره چې ې ورانه نه کړې دا د زړگی خونه
ارمان په کښې د یار کړمه په کور ې پېرزونهٔ دے

دا نهٔ چې صبر بنا پست باندې شپه دا دے زما زړهٔ
د ستا په مخ دې سوزی خو پهٔ اور ې پېرزو نهٔ دے

په غیر ستا د محفل ځنې ې نهٔ شی ځهٔ گذران
در دروی به خاطر خو پهٔ پېغور ې پېرزو نهٔ دے

چې لب نظر ې د بصر پاتې دے
جو ړې منزل ته ډېر سفر پاتې دے

شپه که اوږده د خوږو زلفو ده شوً
وار دې د سپین مخ د سحر پاتې دے
ناز دې د مینې دلبرځنې زړهٔ
لاړې په مینه کښې ځیگر پاتې دے
تېره د شپې وکړه که وکړې یقین
ستا انتظار رانه سحر پاتې دے
د انتظار ډېرې چې تته نهٔ شې
اوس خو شپه تېره شوه سحر پاتې دے
ما خو د ستا په سر وطن کړلو
خبر شه اوس رانه خبر پاتې دے
نهٔ او انکار له تا په کومو سترگو
لاړې د تن د پاسه سر پاتې دے

نهٔ د دربار په ځلهٔ رخصت شکه شم
د یار خاطره چې خبر پاتې دے

[illegible]

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



سترګو دې چل چې د خندا زده کړے
سترګې زما چل د ژړا زده کړے

په لنډو پلونو به يې څنګه ځمه
ما خو تل تګ چې د صحرا زده کړے

نن دې وڼهٔ وې په وعدهٔ کښې راته
ځه وعده کښې دې سبا زده کړے

خاطره طمع د وفا مهٔ کړه
اشنا خو يو چل د جفا زده کړے



د ځان سينګارولو کښې مستې وې ما ليدې
زما د زړهٔ په سولو کښې مستې وې ماليدې

پرون چې څهٔ پرواه ستا په ګذاب نهٔ وه صنم
زما په زړهٔ ويشتلو کښې مستې وې ماليدې

شايد چې وه د دياده حيرانتيا چې هغه وخت
اثين ته په کتلو کښې مستې وې ما ليدې

خفه يمه په دا کهٔ بنهٔ يې ستا لهٔ سپي کړم
رقيب ته په ويېلو کښې مستې وې ما ليدې

لبان دې لکه پاڼې انګې نرې سرهٔ ګلونه
سحر چې ته په ګلو کښې مستې وې ما ليدې

خبرې په غصه کښې کړې هم د چا خاطره
اشنا چې په کتغلو کښې مستې وې ما ليدې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

اشنا چې نن لیدهٔ ئېږې وعدې را یادېږي
دا وصل کهٔ هجران وهٔ چې کیلي را یادېږي

بس وهٔ چې ستا ارمان پهٔ زړهٔ کښې نن خلاودا[1]
دا نهٔ چې ماته نورې مرحلې را یادېږي
نشم چې فراقجن به نور سبا را یادېږي[2]
لهٔ ما چې اشنا لاړهٔ ماته شپې را یادېږي
کهٔ هېر مې شوې ، نن یاد له چې هېر دې نشم بنهٔ[3]
پخوا چې لا پهٔ زړهٔ کښې اوسېدې را یادېږي
هم دومره لېونے ستا د پرېشانو زلفو زړهٔ
چې چرته څو به خاورې با دېږي را یادېږي
زما د زړهٔ یادشي د مخکې نظر سره
پهٔ هیڅ نهٔ هېرېدلې هم داسې را یادېږي
دا نهٔ چې اَهو چشمه اوس یې غټې ستا یوزهٔ
د ستا خمارې سترګې لا دېرې را یادېږي

بېګا چې شمع روڼه هرڅهٔ هېر وهٔ د خاطر
د ستا د محفل ښکلې تماشې را یادېږي

[illegible]

[1] مصرع بې معنی ده



زما د اُمیدونو ورځې شپې وغزېدې
هر څو ستا د منزل کهٔ مرحلې وغزېدې

اوس چرته ترینه لاړ شم لېونے چې کړه یار
هر ځای کښې یې د زلفو زولنې وغزېدې

نمر مخنیه اوس دې سپې لارې ماته کړه کړکې
نظر کهٔ ستا د مخ پرې پلوشې وغزېدې

چا هسې داسې ږدې چې خاطر کړو یار پُخلا
پهٔ دې د رقیبانو جنازې وغزېدې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ښکلې وې، وخندېدې شونډې
خود به د سترګو خوښېدې شونډې

دا ته چې لاړې شونډۀ صبغ ونۀ وې
بس کۀ په تا به یادېدې شونډې

سترګو له زۀ کۀ قسمونه ورکړم
ژړګیه ته کله پرېږدې شونډې

شول جوابونه د خاطر نه خطا
پۀ کشمکش کښې رپېدې شونډې



پوه شومه پۀ دې چې پۀ کنځل کښې څنګه ښکارې
وخانده یو ځل چې پۀ خندل کښې څنګه ښکارې

ستا د تصور پۀ یو جونګړه کښې اوسېږمه
تۀ خو راته وایه پۀ محل کښې څنګه ښکارې

څومره به پۀ باغ کښې ته پۀ غوټیو کې خپل ځان ته
ګله د آشنا پۀ سره منګل کښې څنګه ښکارې

سترګې یې پۀ ما کښې دي چې ګورمه هر چا ته
نن راته اے شمعې پۀ محفل کښې څنګه ښکارې

تا به پۀ آئین کښې ځان لیدلے پۀ یو رنګ وی
راشه د خاطر پۀ هر غزل کښې څنګه ښکارې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اے ګله! چې ستا پوکي د خندا نه سترګې لاړې
نو خود چې لرې برېږي د ژړا نه سترګې لاړې

نرګیه! پس له دې به یې د ستا په سترګو ګورم
نظر یې وه اشنا، چې لاړ، زمانه سترګې لاړې
هم دا دې بدرګه شوه مه ګرځه پار له راهزنانو
اے ګله! ودوستو وړاندې یې له تا نه سترګې لاړې
ما وې چې که ورګوري نو اوس بیا مخ پټوي
نو کوزې یې ګریوان ته له حیا نه سترګې لاړې
یو بل ته په کاته شو او په نیمو نو زلزلې وې
محفل ته چې ته راغلې د هر چا نه سترګې لاړې
لړ، راشه شمع رویه! لرې ګوره چې څه شوم
د ستا په تماشا کښې یې له ځانه سترګې لاړې

نو څه شو که مرې د خاطر سترګې په تا نه شرې
چې ورېږي داسې ورېږي له دنیا نه سترګې لاړې

میاشتنۍ «قند» مردان

(غزل نمبر) جولائي، اګست ۱۹۸۹ع

که دې دا زلفې په لاس راغلې اشنا بیا به څه کړې
که نه عادت له دې بلا سره شم بیا به څه کړې

در ته کښته نه شم حیران یم د اشنا سینګاره
تا یې چې داسې په اشنا وکړل په ما به څه کړې

څو به بښې او دا د ینه تل ته ماته کړې
چې یې پېرزو نه وي دعا مخه اشنا به څه کړې

چې څه یې وکړل مخه یې تول وکړل په تا خاطره
دا یې چې تاله په لاس راشي په اشنا به څه کړې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ږ پرې خوشحالي به نۀ ده بيا رانه مړه ړي
کله کله غم راکوي تل چې ي يا د پرې

زۀ دې يم لمکې پېتېدے نۀ شې رانه شمې
خداېږو د دنيا نه پۀ تيارو کښې به بنکاريږي

ماته د آشنا د وعدې مرېږ ځاې اشنا دے
اے وړ يه نظره تۀ پۀ هيڅ هم نۀ مړيږي

ستا به د خاطر نه وي پۀ زړه کښې څۀ تورشي
دومره بې پروا يې چې پۀ مخ کښې مې تريږي

○

[illegible]



○

لکه مجنون غوندې کرځم پۀ بيابان درپسې
وايم پۀ خُلۀ ليلیٰ ليلیٰ څيرې کرېوان درپسې

نۀ شوم خبر نۀ د وصال لۀ خوشحالي ندچرې
لکه وحشي کرمه غمونو د هجران درپسې

نۀ دې آشنا يم نۀ چې بيا راته آشنا ووائې
پروا ې نشته دے پۀ تا نۀ کرم خفګان درپسې

چې تۀ بيا نۀ وائې پۀ ما چې تۀ شيدا نۀ يې تۀ
کۀ د کمرو مې ګذار نۀ کړو خپل ځان درپسې

پۀ حال خبر شه چې نردې را نۀ شې خواله زما
چرې پۀ لاس کرځي خاطره رقيبان در پسې

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

راشه اے ماهِ تابان په توره شپه کښې
یم تر زلفو پرېشان په توره شپه کښې

لاړ تېکړو بې پروا یم ستا په عشق کښې
لکه بحر یم روان په توره شپه کښې

په خندا مې ستا قسم وی شمع بدېه
څو به کړمه دا ګریان په توره شپه کښې

زه خاطر د ستا د زلفو نه ډار نه کړم
مالیدلی دی ماران په توره شپه کښې

○



چې د سترګو دی ښکار زړه زما سترګې
چې یې نه شی کړے پوښتنې زما سترګې

زړه کچکول کړمه د اوښکو په زنځیر کښې
چې درکوم شی نمځنې زما سترګې

مرګ ژوندون دے لبې راکوره د نږه سره
درنه غواړی جوړه بخښنې زما سترګې

دهرچا دې دیدنونه مبارک شی
وینې ستا د پېرزوینې زما سترګې

په ژړا باندې خو نه شی چې زه ژاړم
ډکې ستا د درلښنې زما سترګې

ستا د سترګو کړی خاطر چې نه درکوی
هسې نه چې دی پارنې زما سترګې

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


خو د هرې يوې کوڅې شوې زما سترګې
چې د ستا سترګو ته غلې شوې زما سترګې

ستا منزل ته به د زړهٔ په سترګو رسم
په تلو تلو کښې مرحلې شوې زما سترګې
څهٔ زوخونه پرې د ګرمو اوښکو اوړی
په ژړا د غم پېغې شوې زما سترګې
چې سبا بېګا يې ستا په در کښې نيسم
خو د هرې يوې ناې شوې زما سترګې
بيا مې هغه خپلې سترګې خپلې نهٔ کړې
چې له ځانه نه په دې شوې زما سترګې
اوس په دم کښې د يار زر ځل ديدن غواړی
د اول نه ډېرې ښې شوې زما سترګې

نهٔ خاطر به په ترخو زړهٔ اوس عادت کړم
چې په تا باندې خوږې شوې زما سترګې

میاشتنۍ غنچه ستمبر ۱۹۶۰ع

ستا چې نهٔ وينم دا تورې سترګې
په کار مې نهٔ دی دا راپورې سترګې

نهٔ به يې د بل سترګو ته پورته نهٔ کړم
ستا په پل مې دی نسکورې سترګې

ساقي د ستا پيمانه څهٔ کومه
چې د اشنا مې دی مخمورې سترګې

خاطره ژاړه له هجرانه سره
په تصور کښې خوږې کړې سترګې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څه وشوې سترګې مې په تا باندې خوږې شولې
چا ته پوره ته نه شوې چې دستا په لور کږې شولې

ګوره داګریوان مې چې وحشت څنګه تار تار کړلو
نه شلیږي دستا د زلفو څرنګه حلقې شولې

ما خو به وټل چې دستا خُلهٔ ډېره آسانه ده
ګرانه شوله څکه دومره خُلې چې راپسې شولې

اوس هم ستا د مینې افسانه زما په شونډو ده
څورې افسانې مې په نړګوتې کښې ودستې شولې

سترګې د خاطر که ستا په سترګو تېر وتلې دي
ګورمه دا بدې که زما په حقله بنې شولې

تا به کتو غل چېرته خاطره د ورک شوي زړه
نه ګورې چې تاته داشنا سترګې بس غلې شولې



چې اشارې کړې ایسار به یم ولې
چې پښېمان یې تیار به یم ولې

په یو ساعت کښې مې بیا بیا ژړوی
چې اوس ژړېږم قرار به یم ولې

دریغه چې مې سر دې د ستم نه وه ځنه
چې نه سرکېږم انار به یم ولې

نور به دې څه وکړی بانه په خاطر
تول دې په سر کړمه وېرېږم ولې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

اوښکې نهٔ کمېږي خوږ را ماتې شي
تا چې خندا وکړه نو را زیاتې شي

څو ځلې د اوښکو سره درغلم
دا ځنګه جرګې او ننواتې شي

څو به ګوري ستا سترګې نماستګې
لرې دي وې خبرې دې هو چې زیاتې شي

تا چې د خاطر سره څهٔ کړې دي
خبرې دې اشنا دا مې درته پاتې شي

○



○

تهٔ به پهٔ زړهٔ کښې ماله څهٔ راکوې
کهٔ راکوې ماله به زړهٔ راکوې

منع به نهٔ شم ستا لهٔ دره ځنې
پهٔ دې دې نهٔ یم کهٔ څهٔ نهٔ راکوې
څهٔ لوې اختر دې د ځوانۍ تېر کړلو
تهٔ به لا سونه ماته بښهٔ راکوې
داسې چل وکړه چې نور ورو ورو درېږم
سبا به ښکلیه یو لمبه راکه
دا خوشحالي به ماته څوک راکوي
چې تول غمونه راله تهٔ راکوې
چې پروند او ګودې دې کړم نو ماله به شوې
اوس څو به هر څهٔ پهٔ کالهٔ راکوې

ضد لهٔ خاطره سره مهٔ کوه تهٔ
کهٔ یو اوان راله پهٔ ځلهٔ راکوې

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تهٔ ما ستا بلې یو پهٔ سله نهٔ یې
دا تهٔ زما پهٔ وینا څله نهٔ یې

کهٔ څوک خپل ځان درته ذرې ذرې کا
خپله کوې تهٔ د چا خپله نهٔ یې

دا تهٔ څهٔ چرته یې چې نهٔ یې نهٔ یې
هر وخت زما سره تهٔ څله نهٔ یې

خاطر به هم پهٔ تا اعتبار کوی لا
تهٔ خو هم هغه یې څهٔ بله نهٔ یې

هر څوک چې د زړهٔ قرارولو له راځي
پوهېږم ولې نه چې قتلولو له راځي

بلبل کړی د ګل وصف کهٔ بهار وی کهٔ خزان
بورا تهٔ خو یې بس یو بنګلولو له راځي

غمونه د اشنا زهٔ اوس پهٔ هېڅ نهٔ هېروم
اے غمه د دنیا کهٔ هېرولو له راځي

ارمانه د اشنا شه د اشنا سره مېشته
چې زړهٔ ته د خاطر ازارولو له راځي

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


# سندرې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

داسې راته ګورې لکه ته چې راته ګورې
تېغ مې لهٔ زړګی وُتُ کاږهٔ چې راته ګورې

کله چې د زلفو ورېځ لرې کړې لهٔ مخه
شې دې پلوشې ښکلې بانهٔ چې راته ګورې

هغه وخت لبِ وړوکی ته چې مخ راڅنې پټ کړې
داسې معلومېږې لکه ښنهٔ چې راته ګورې

ته زما د زړهٔ نه دخپل حُسن تپوس وکړه
زهٔ به درته ووایمه څهٔ چې راته ګورې

نن خو مې خاطر وکړهٔ چې مهٔ راته راګوره
زهٔ درته کتے نهٔ شمه ته چې راته ګورې

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


اوس را نه هيڅ نۀ شی خطا ده
لۀ هر څۀ هر څۀ وو تـمه
ګرانه اشنا دا ېِ سزا ده
نۀ چې پۀ تا مئينېدمه

نۀ در نه خفګه هېرېدمه     خپلو وعدو نه وشرمېږه
تا چې خندل نۀ ژړېدمه     لۀ هغو شپو نه وشرمېږه

هېره زما تا له دنيـا ده
شام و سحر دې يادومه
ګرانه اشنا دا ېِ سزا ده
نۀ چې پۀ تـا مئينېدمه

غر پۀ غر نۀ ورځې ضعه     چې وی ژوندی لغر به راشي
درته پۀ زړۀ کښې به يې ساته     پرينده چې مورېبنۀ پۀ جناشي

زما پۀ سترګو کښې حيا ده
نۀ يې پۀ څـۀ درواړومه
ګرانه اشنا دا ېِ سزا ده
نۀ چې پۀ تـا مئينېدمه



تل به پۀ هر چا داسې کېږی     پۀ داسې خلقو چې اعتبار کا
لۀ خپله ځانه چې خبر نۀ ی     لۀ اکر ګلو به يې ګـذار کا

د بـسکلو مينه بې وفـا ده
نۀ به يې څـۀ درتـه ستايمه
ګرانه اشـنا دا ېِ سـزا ده
نۀ چې پۀ تـا مئينېدمـه

خاطر خوږمۀ وے درکړلي     اوس يې ژوندون اختيا ور د ے
هغه چې تا ورته خندلی     نن يې دنورې خندا تور دے

زمـا د زړۀ خوښـه ژړا ده
ځکه يې نۀ قـرار ومـه
ګرانه اشنا دا ېِ سـزا ده
نۀ چې پۀ تا مئينېدمه

ے د دوارو ځايه د (لکه) په ځای (د) ليکل شوے دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې مې سترګې دیدن د اشنا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دُنیا نهٔ کا

نهٔ به څهٔ کړم ګریبان چې یار راکړي ګُل
پهٔ زخمونو ملهم به کېږدي د ګوګل
هسې هسې مې یار خندا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دنیا نهٔ کا

ایله زُلفې یې اوس غُنچې ته جوړې شوې
دواړه شونډې یې خندېدو ته جوړې شوې
مل به څنګه زما سودا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دنیا نهٔ کا

د ستا مخ ته زما نظر ورسېدو
هغه اور مې سم تل تر څیګر ورسېدهٔ
بې له سوزه څو ځیګر ژړا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دُنیا نهٔ کا

اے خاطره کیلي د خپل یاره مهٔ کړه
ته طمع د دل اناره مهٔ کړه
اے شباب خاطر د هیچا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دُنیا نهٔ کا



شوې د زړهٔ سترګې سپینې اشنا تا پسې
راشه که یې وینې اشنا تا پسې
لبا نو ستا نهٔ د ښامار پهٔ شان خوړلے یمه
نهٔ دې د سترګو پهٔ ښو باندې ویشتلے یمه
ځې مې لهٔ خُلې نه تورې وینې اشنا تا پسې
راشه که یې وینې اشنا تا پسې

پهٔ دې هجران کښې به تر څو پورې کړېږمه زهٔ
شام او سحر لکه ماشوم غوندې ژړېږمه زهٔ
او ښکې مې ځې پهٔ مخ رنګینې اشنا تا پسې
راشه که یې وینې اشنا تا پسې

چې ته کوې پهٔ ما ظلمونه راته پېغور د صنمه
خاطر کوي در ته سوالونه پهٔ زړهٔ یې نور د صنمه
وهم رباب څکه د مینې اشنا تا پسې
راشه که یې وینې آشنا تا پسې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نهٔ ومه خبره زهٔ، تاچې زړهٔ با ئېللے دے
تا ووې ربار ته پس لهٔ دې به څو راځې
خبر دے کهٔ تش تورې دې پرون زړګے شپلےدٔ
خیال ې وهٔ سنګار ته پس لهٔ دې به څو راځې
ونبا یه څنګر راته      اوس د زړګی سر راته
وایه د بنوغشو پهٔ کوم کوم ځاې ویشتلے دے
لاس کښې آئینه ې وه      کړې چې کینه ې وه
ماکتل رخسار ته پس لهٔ دې به څو راځې
څنګه مرې در شمه      پهٔ حال دې چې خبر شمه
لاس کښې دې رقیب راته ډک تور پک نیولے دے
یو ځلې در غلے وم      وهرې دې زغلولے وم
غلے وم دیدار ته پس لهٔ دې به څو راځې
ساچې کوم ستم کړے      اوس ې پهٔ تاکم کړے
دا دڅوانئه ولړ پهٔ ما نن سبا راغلے دے
شو خاطر غلام دستا      کړې به تل سلام دستا
پرې ې بنده در بار ته پس لهٔ دې به څو راځې

نن څو را ته مهٔ وایه چې نا      تر سبا
سود ې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا      تر سبا
ووایه اشنا راته، تهٔ زما تعبیر نهٔ یې
وی چې تل پهٔ خیال کښې ې تهٔ صفه تصویر نهٔ یې
بله را ته بنکاری دا دُنیا      تر سبا
سود ې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا      تر سبا
راکړه ساقی داسې مئې چې شی زما اوسنا نشه
هم پرې د چوپتیا نشه هم پرې د دنیا نشه
جام د لبو راکړه پهٔ بیا بیا      تر سبا
سود ې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا      تر سبا
نن خو دې راجمع څهٔ پهٔ مشو کښې کیفونه دی
ستګو پیمانو کښې دې رنګ پهٔ رنګ ستونه دی
ګلې د خاطر شه پهٔ رښتیا      تر سبا
سود ې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا      تر سبا

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې ستړګې نهٔ وباسي، زما او ستا نه
راځه چې دروموو دواړه، لهٔ دې دنیانه

زما او ستا دلته څهٔ دی، خویږه مینه
دا څو هر چرته کیږی، چې داسې وینه
ځان له به جوړ کړو بوستان، په بیابانه
راځه چې دروموو دواړهٔ لهٔ دې دنیانه

څو به په وېره سره، دیدن په غلا کړو
په انتظار کښې سره، بېګا سبا کړو
تهٔ شه لهٔ زلفو تېره، نهٔ لهٔ ګرېوانه
راځه چې دروموو دواړه، لهٔ دې دنیانه

دا ټک د مینې زړونه، به دواړه یوسو
څه چې ځنګل ته لاړ شو، هلته به اوسو
یو دې چار ګل په پوښه، بل دې پېزوانه
راځه چې دروموو دواړهٔ لهٔ دې دنیانه

دا مې په خوا خاطر کښې، نهٔ وو صنمه
چې زهٔ خاطر به شمه، په خاطر جمعه
څکه چې ستا لهٔ غمه، ډېر یم پرېشانه
راځه چې دروموو دواړه، لهٔ دې دنیانه

[illegible]



طلب کړم صنم چم په چم
لوند مې ګرېوان دے څاڅي مې نم

مینه وفا دې نشته
په چا پروا دې نشته
وېره لهٔ چا دې نشته
کوه ستم طلب کړم صنم

رنګ مې تک تور صنمه
سوے په اور صنمه
کومه شور صنمه
وکړه کرم طلب کړم صنم

مینه بهار دے دستا
چمن ګلزار دے دستا
خاطر ماليار دے دستا
د ګل په چم طلب کړم صنم

ـــه منزل لرنداړ دیوان کښې مصرع داسې ده چم په چم طلب کړم صنم

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د سڼ نه کال ته ډېر غمونه
له داسې ژوند نه مرګ بنه دے راځې شینه
الله دې خیر کړي
ستا د ممانو فریادونه
هېر به مې نه شي
لکه د زانو قطارونه
هېر به مې نه شي
پاس په اسمان کښې جهانونو سره ځینه
الله دې خیر کړي
د پښتنو فقیره ژوندده
خنګه به تېر شي
تېر خو به شي په لوږه تنده
خنګه به تېر شي
په مصیبت به دې څوک سر ته رسوینه
الله دې خیر کړي



نوم د پښتو راځي هم شي
څوک مې یاد یږي
غم د هغوي را سره پر شي
څوک مې یاد یږي
څوک چې د قام او د اولس خدمت کوینه
الله دې خیر کړي
خاطره هغه خلق ستا یه
په خپل کتاب کښې
تل په بار بار دغسې وایه
په خپل کتاب کښې
حاجي سره ئې په وطن ورکړي دینه
الله دې خیر کړي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شوګیرې ټولې په سبا سبا کښې تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
ستا د ښایسته سترګو د پاره   فکرونه ماته ښکلیه یاره
څومره لېږې مې په نیګرتې باندې تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
د خدای د پاره بس ګړاشه   که مرور یې راپخلا شه
ستا د راتلو په انتظار مې سترګې ستړې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
دا ته چې لاړې د بل چا شوې   زما د زړه ځنې جدا شوې
زما دا سترې شوګیرې دې ټولې هېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
خاطره زه ځان ته حیرانه یمه   که لېرا ګورې بس روانه یمه
د پیغلتوب ملګرې ټولې دا نه ګېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو

د قافیه درسته نه ده



وا وره صنم زړه مې نه شي له تا نه
ویلې نه شم زه څه له حیا نه

دغه ستا د مینې درد و نه ښه دې په ما
زړه مې د ستا د پاره وائي چې وې دې په ما
وا وره صنم

په کومه لاره ښکلیه چې قدمونه کېږدې
دا به د مینې په زړه باندې داغونه کېږدې
وا وره صنم

زړه مې له خپله کوره تښتي چې راشې صنم
خاطر به ګران دے په ما چې په خندا شې صنم
وا وره صنم

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

پهٔ تش ديدن باندې يې نو نو مشغوليږه
څو مهٔ خفه کيږه بله ورځ به راشم

لهٔ هرچا پټه پټه ستا يارانه به کړمه
تا له چې درشمه نهٔ څهٔ بهانه به کړمه
پهٔ انتظار کښې يې لهٔ ځان سره ژړېږه
څو مهٔ خفه کيږه بله ورځ به راشم

کړم دا وعده درسره چې تا به هېڅ نهٔ کړمه
يو ساعت بې لهٔ تا به پهٔ نور څهٔ تېر نهٔ کړمه
پهٔ دې سودا يې قدهٔ کيږه را ويښېږه
څو مهٔ خفه کيږه بله ورځ به راشم

نبيه د ستا او زما ، ماهِ تابان شو سره
بل يې کاروان د ستورو پهٔ کهکشان شو سره
د سبائی د خيال خوبونو کښې زنګيږه
څو مهٔ خفه کيږه بله ورځ به راشم

ځان ته دا تول دُنيا خاطره ما وکړنه
پهٔ کښې يې مخ او زُلفې بېګا سبا وکړنه
د زړهٔ پهٔ مينه يې پهٔ سترګو کښې اوسېږه
څو مهٔ خفه کيږه بله ورځ به راشم

[illegible]



تهٔ چې پهٔ مرګ زما رضا يې
ما ته قبوله دلربا يې
ستا رضا ده چې دا سې ژړېږم
پهٔ عالم کښې دا سې ګرځېږم
پهٔ محبت يې نا رضا يې
ما ته قبوله دلربا يې

عاشقي وه پېدا لهٔ اوره
لېږ زما سوی زړهٔ ته وګوره
جوړ پهٔ معنیٰ قيمت بها يې
ما ته قبوله دلربا يې

خاطر ته ګوره دا سې حېران دے
پهٔ محبت کښې ستا بنديوان دے
يې کبرجنه بې ريا يې
ما ته قبوله دلربا يې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوبنه دې شوه وله زما داشنا مینه
اے زړه غمګینه

اے زړهٔ ذرې شه
خاورې ایرې شه
ځي دستګو د زړګی وینه
اے زړهٔ غمګینه

راشه کهٔ وینې
د زړګی وینې
د یار پهٔ غم کښې چې دوی راځینه
اے زړهٔ غمګینه

خاطره دا شپې
تا نه جدا شپې
چرې د وصال شپې د یارکه دینه
اے زړهٔ غمګینه

اوس به وطن د سرو ګلونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
ځهٔ به د بنګلو نګهتونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
بلبله ستا د تماشو ورځې دی
راشه هم دا دې د نغمو ورځې دی
نه چې لاهغه د ازغو ورځې دی
ځان کړه پهٔ خود اوس د ګلو ورځې دی
راشه چې ژوند دې د کېفونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
اوس به تول بوټی سره ځان وښائی
څوک به ګلی، څوک به ګلان وښائی
لاله به هم خپرې ګرېوان وښائی
هم به بلبل شور و فغان وښائی
اوس به ښاخونه د رنګونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


جونه به ولونه د وربل جوړوي
په کښې ښایونه به د ګل جوړوي
سرو سرو غنچو نه به منګل جوړوي
په آئینو کښې به کاګل جوړوي

دغه جهان به لاړ نا زونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

ښکلې ځلمي به په شملو کښې بندی ګل
اوس خو به جونه په کمڅو کښې بندی ګل
ډېر ارمانونه به په زړو کښې بندی ګل
څوک به د زړه په پرهرو کښې بندی ګل

دا سې به زړونه په داغونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

زه کوم ژړا د چا خندا نه وینم
چې ې لیده هغه رڼا نه وینم
ګل د رخسار چې د اشنا نه وینم
زه نور ګلونه د دُنیا نه وینم

څوک له جهان له دیدنونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

د ارمانونو لوے جهان رڼوي
زړه په ګوګل کښې ې جانان رڼوي
د مینې ګل را نه هجران رڼوي
نه کړي خاطر دغه بوستان رڼوي

د مخ کتاب دې د رانونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

ښه به د ښکلو نګهتونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زړګے مې غواړی شمع رویه سوزېدل
راشه یوځل

ارمان مې دا دے کۀ پوده شی
د رنځ دارو مې د اشنا سره لیدل
راشه یوځل

څو به شوګیر کړم راته وایه
واړه خوبونه راځني وتښتېدل
راشه یوځل

کۀ دیدن کړې تلوار راوکړه
همزولې راغلې خوروی مې تور وېبل
راشه یوځل

عاشقان ګوره حال یې څۀ شو
لکه پتنګ چې پۀ لمبو وسوزېدل
راشه یوځل

سوال د خاطر منظور کړه یاره
جفا دې پرېږده د وفا وکړه کتل
راشه یوځل



ښ دې وډبل پۀ کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه نۀ اور راته بل دے

د ډوند کاروان مې دے دغم خپوګړ دونړکښې
واوره فریاد مې د جرس پۀ اوازونو کښې
تلے دې پل پۀ کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه نۀ اور راته بل دے

ترڅو د هجر دا اوږدې شپې او تيارې به وينم
سبا د وصل به وی لرې کۀ نږدې به وينم
د ستا منزل پۀ کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه نه اور راته بل دے

خاطره ښ دې کۀ لږ سم راته کتلی وے
واړه بڼا پسته به دې لۀ زړۀ څنې وتلی وے
دکتو چل پۀ کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه نۀ اور راته بل دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستړګې نيولې دي ماستا په رخسار کښې
او به او به شول توري ئې په ځمبار کښې

ما چې ليدلے ، ستا ښو کښې پل دے
غم د وحشت ، وحشت راسره مل دے
اوس مشغولا کوم په دغه لار کښې
او به او به شول توري ئې په ځمبار کښې

نه د ر رسيږي نه درته غږ شي
نه را ته ځمب شي نه را ته نښ شي
داغه ژوندون دے په انتظار کښې
او به او به شول توري ، ئې په ځمبار کښې

يار يې له بنګلو سره روان دے
دي تماشې ته خاطر حيران دے
لکه سپوږمۍ وي ، ستورو قطار کښې
او به او به شول توري ئې په ځمبار کښې



زما په طمع به کړې تېرمسې وختونه
زه دې ياره نه يم دومره وزګاره نه يم
چې درته کړم

ما ته را ياد نه دی څوک زه په ځان کښې يمه
په زړګي غم نه لرم په خوشحالۍ کښې يمه
زه ليونے يم چې کوم دومره فکرونه
زه دې ياره نه يم دومره وزګاره نه يم
چې درته ګورم

ليونۍ نه يمه چې ، دغسې سودا کومه
په تا دې اور بلېږي زه څه پروا کومه ۲
چې بيا مخ وچې را ته نه کا پېغورونه
زه دې ياره نه يم دومره وزګاره نه يم
چې درته ګورم

---

۲ متن ليونه او چيرلو کښې دواړ مصرعې داسې دي :
ليونۍ نه يم چې دا سودا کړم ـ په تا دې اور بلېږي زه څه پروا کړم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

دومره وزګاره نهٔ يم چې خپل ځان وويښم
چې په اٸين کښې ګورم آٸين پرېشان وويښم
جانانه ډېر درپسې کړمه ارمانونه
زهٔ دې ياره نهٔ يم دومره وزګاره نهٔ يم
چې درته ګورم

زهٔ چې ګورم له خمه مٸين سوزېږی په ما
لکه د اور په شان سېځګار ځلېږی زما
خاطره مهٔ راځه بلېږی سرهٔ اوردونه
زهٔ دې ياره نهٔ يم دومره وزګاره نهٔ يم
چې درته ګورم

توري سترګې دې اشارې کا
سرې شونډې لبې کا
زړهٔ کيه راته وايه
چې زهٔ کوم طرف ته لاړ شم

کله باڼهٔ راته انغی کا
پېښې د ګلو انګی کا
چې مسکی شی بيا سترګې مړې کا
سرې شونډې لبې کا
زړهٔ کيه راته وايه
چې زهٔ کوم طرف ته لاړ شم

بيا چې ارمان د ډېر نهٔ وی
کړه چې خهٔ دې تن په زړهٔ وی
چې مې خلق ټول تماشې کا
سرې شونډې لبې کا
زړهٔ کيه راته وايه
چې زهٔ کوم طرف ته لاړ شم

د انتظار په توره شپې کښې
دا دې خاطره په تياره کښې
خپلې اوښکې دې ځان ته ډېرې کا
سرې شونډې لبې کا
زړهٔ کيه راته وايه
چې زهٔ کوم طرف ته لاړ شم

له متن لرغونه او ديوان کښې (تن) نشته
له متن لرغونه کښې دا بند نشته

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې تر سبا به دې ژړا په تا پسې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما ناترسه یاره

دلبره بنده را ته معلوم یې
مسې خوله چې ته ماشوم یې
کله زهیر په ما مظلوم یې
چې نه پوهېږې له هغو سره وعدې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما ناترسه یاره

چې ستا د مخ په تماشا وم
دغه وصال وه که جدا وم
نه یم خبر په څه سودا وم
چې تماشا مې ستا د مخ د تماشې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما ناترسه یاره

چې په غمونو کښې دې گیر کړم
اوس دې دلبره ځله هېر کړم
که دې یو ځل په دیدن سیر کړم



کښې له غمه به دې سر شم بیا مزې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما ناترسه یاره

چې د اغیارو زما یار شي
بس اوس مې قتل ته تیار شي
اشنا زما ځنې وېزار شي
پرواه مې نشته خو په ځپله مې ذبې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما ناترسه یاره

څنگه قبول دغه بېلتون کړم
څه بې له تا په دې ژوندون کړم
دلبره مینې دې مجنون کړم
جانانه اوس را پورې ټوقې مسخرې کړه
را یادې دغه شپې کړه
زما ناترسه یاره

دستا چې نه یمه رټا یم
را غلې دایم په خندا یم
مرور نه یمه پخلا یم
خاطره بیا که مرور شوم نو گیلې کړه
را یادې هغه شپې کړه زما ناترسه یاره

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تږې به د ستا د حسن وارشي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

چې نهٔ را درومې اشنا نوعدې څاه کوې
هغه پرون دې څهٔ وې نن چې بیا یاله کوې
زما یقین ستا پهٔ اقرار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

ستړګې مې بې لهٔ تا نه د چا پهٔ لور نهٔ ګوری
د ستا لهٔ مخه څنې مخ نه نور نهٔ ګوری
مَرې به کله پهٔ دیدار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

نهٔ د بل چا د مینې اشنا څهٔ طمعه نهٔ کړم
نهٔ به لهٔ تو نه سره ستا مینه سمه نهٔ کړم
پهٔ ما خاطر دې کهٔ اعتبار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

له منزلونه او دیرانه کیږي (چې) د ے

چې نهٔ را درومې یاره تهٔ ، منع دې کړه یاد زما
نهٔ شومه پوه پهٔ خپل ژوندون ، کړو عمر دې برباد زما

ان د یو ساعت مهمان د لې
واوره زما یو خو ګیلې
تږې به شي ستا شباب ، سر دې نهٔ کړو مراد زما
نهٔ شومه پوه پهٔ خپل ژوندون ، کړو عمر دې برباد زما

چا ته بنکاره کړم خپل څیګر
نهٔ کړې پروا چې پرې دلبر
نورې دې خوک چې یې واوری دغه فریاد زما
نهٔ شومه پوه پهٔ خپل ژوندون ، کړو عمر دې برباد زما

کهٔ بنهٔ دې شي پهٔ سر زما
وی دې پیشکش دلبر زما
وائی خاطر شه نارلهٔ تا ، نشته باقی جانښاد زما
نهٔ شومه پوه پهٔ خپل ژوندون ، کړو عمر دې برباد زما

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

زۀ جهان څۀ کړم چې نمر مخیه یاره تا ووینم
ښکله دنیا ووینم    ښکله دنیا ووینم

ستا د کاکل پۀ تورو شپو پورې لا شپې څۀ دی
ستا د سرو شونډو انګو پورې غنچې څۀ دی

نۍ تماشه مې د ژړا چې د بې خندا ووینم
ښکله دنیا ووینم    ښکله دنیا ووینم

د ستا پۀ مینه کښې د خلقو خندنے خوښ یم
خو د خپل عقل نه وذګار شم لېونے خوښ یم

راسره غم د لېونو شي چې صحرا ووینم
ښکله دنیا ووینم    ښکله دنیا ووینم

ګله چې ما خاطر ته یاد شې ټول جهان ګل شي
لۀ ډېره هجره ضریو ګل مې د چشمان ګل شي

خدای خبر بیا چې زۀ به ستورے د سبا ووینم
ښکله دنیا ووینم    ښکله دنیا ووینم



د قام ځلمو سترګې مو پورته کړئ خپل ځان وګورئ
چې پته کښې ورسېدۀ ، وګورئ جهان وګورئ

د قام ځلمو زموږ همدغه د ختې ورځې دی
دا مو د ژوند د بنۀ کېدو د خوشحالو ورځې دی

د نمر پۀ څېر مې خپل طاقت پۀ ټول جهان خور کړئ
پۀ خپل همت هر چرته نوم د پاکستان خور کړئ

شا ته نور مۀ ګورئ پۀ وړاندې خپل قدم کېږدئ
پۀ ورانو لارو باندې مۀ ځئ قدم سم کېږدئ

لۀ مخې لرې کړئ ازغي ځان ته ګلونه کېږدئ
شي چې اغیار در ته حیران هلته کښې پلونه کېږدئ

موږ له چې مخې له راغلي وار خطا تللي دي
ځلمو زموږ نه څنې ډېر ځلمي پۀ شا تللي دي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تا سو هم وا ورئ چې پېغور ته نظر ټیټ نهٔ شي
د پاکستان خلقو مېدان کښې مو سر ټیټ نهٔ شي

د مشرانو تل خلقو نصیحتونه نهٔ وي
دا مو دے وخت د ترقۍ تل دا وختونه نهٔ وي

ملا مو د قام خدمت ته و تړئ چې سیال شئ پکښې
دا تنګي لنډې کړئ اوارې چې خوشحال شئ پکښې

چې نن یې ونهٔ کړئ خلقو بیا به یې کله وکړئ
د خپل وطن خدمت ته پورته شئ پهٔ خپله یې وکړئ

یو بل ته مهٔ ګورئ، لهٔ ځان هر یو مالیار جوړ کړئ
د پاکستان د هر یو ګوټ ځنې ګلزار جوړ کړئ



د دښمن پهٔ خونه تندر د اسمان جوړېږي
چې پاکستان جوړېږي
شان و شوکت دے زمونږ
جاه و حشمت دے زمونږ
د قربانۍ پهٔ ډېرو وینو دا مکان جوړېږي
چې پاکستان جوړېږي
دا دهکې مهٔ کوه
هسې د پکې مهٔ کوه
زړهٔ د فولادو نه د هر یو مسلمان جوړېږي
چې پاکستان جوړېږي
غم د بلا نهٔ کوو
د چا پروا نهٔ کوو
مقابلې ته د دښمن زمونږ یو ځوان جوړېږي
چې پاکستان جوړېږي
مونږ د خپل کور کړو فکر
هم د خپل ودود کړو فکر
فکر مو دا دے چې کشمیر کښې هندوستان جوړېږي
چې پاکستان جوړېږي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ښاغلي په شان وو اول
حیران پرېشان وو اول
اول وو ښاغلي اوس د دریاب ترې بې پایان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
هر امتحان ته ولاړ !
دغر په شانته ولاړ
وائي خاطر چې کلک په شان د سنډان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

ستا د هلال ستوری مدام اختر دی زمونږ
د ستا مثال ستوری ښکاري نظر دی زمونږ
د ستا د اقبال ستوری سر او بصر دی زمونږ

تل ځلیږي په تا چې یې روښان وطنه
د پاکستان وطنه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**